# کبیره او صغیره ګناهونه

Ketabton.com

لیکوال:
فرید احمد (مبارز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پېژندنه

د کتاب نـوم: کبیره او صغیره ګناهونه

لـیکـــوال: فرید احمد (مبارز)

کـمــپــوزر: خپله لیکوال

بــیـا کــتــنـه: مولوي حمدالله

برېښنالـیک: Faridahmadmobariz81@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالـۍ

زما مـحترمو والدینو ته چې زما روزنه او پالنه یې په پوره مینه کړې ده. علماء کرامو، اُستاذانو د علم د لارې لارویانو ته چې تل یې خپل قلم د اسلام د پرمختګ لپاره جاري ساتلی دی او ټول اُمت مسلمه ته دي ډالۍ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

**موضوع** **مخ**

کتاب پیژندنه ........................................................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحیم.............................................................................. ۲
ډالۍ.......................................................................................................... ۳
فهرست....................................................................................................... ۵
سریزه......................................................................................................... ۶
د کبیره او صغیره ګناه تعریف او تشریح...................................................... ۷
کبیره ګناهونه.............................................................................................. ۹
صغیره ګناهونه........................................................................................... ۱۱
د مسلمان سپکاوی یا ټوکي باندي کول....................................................... ۱۴
غیبت کول حرام دی.................................................................................... ۱۷
ښکنځل او بي حیاء خبري کول................................................................... ۱۸
پر انسان یا ځاروي باندي لعنت ویل............................................................. ۲۰
د عالمانو او د الله سبحانه وتعالی د ولیانو بي ادبي یا بي عزتي کول.................. ۲۲
درواغ ویل یا د درواغو قسم اخیستل........................................................... ۲۴
د مسجد شریف بې احترامي کول................................................................. ۲۷
لمانځه ته په صحیح ډول توجه نه کول......................................................... ۲۹
په تول او ترازو کي کمي کول..................................................................... ۳۲
تصویر جوړول حرام دی.............................................................................. ۳۴
د الله (جل جلاله) د نامه څخه ماسیوا په بل څه قسم اخیستل ........................ ۳۷
بي ګټي خبري او عمل کول......................................................................... ۳۸
لونګ یا پرتوګ تر بجلکو کښته کول............................................................ ۳۹
په ناوړه القابو سره د یو چا یادونه کول........................................................ ۴۱
د مسلمان عیب لټول یا یي رسواء کول......................................................... ۴۲
چغلي یا دوه مخي کول.............................................................................. ۴۲
د نسب د امله یو چا ته پیغور ورکول........................................................... ۴۴
د قران کریم د آیت، حدیث او د الله (جل جلاله) د نامه بي ادبي کول.............. ۴۵
بي ضرورته ستر لوڅول.............................................................................. ۴۶
د نجومیانو څخه د غیبو خبري پوښتل......................................................... ۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلګو لاره تنګول او په لاره کي یي مرداري اچول.......................................۴۷
سود خوړل یا یي کاروبار کول.......................................................۴۷
د الله سبحانه وتعالی څخه ماسیوا په بل څه سره قسم اخیستل.......................................۴۸
د الله (جل جلاله) د نامه څخه ماسیوا نذر کول حرام دی.......................................۴۸
د فلاني په حق سره دعا کول.......................................................۴۸
د دروا غو شاهدي ورکول.......................................................۴۹
د بسم الله الرحمن الرحیم لیکل په اعدادو سره.......................................۴۹
د رشوت ور کولو جائز او ناجائز صورتونه.......................................۵۰
د کمیشن یا د دلالي اُجرت اخیستل.......................................................۵۰
په خیرات ورکولو سره احسان اچول.......................................................۵۱
د الله (جل جلاله) د نامه څخه ماسیوا څاروی ذبح کول.......................................۵۱
ښځه د خاوند او مزدور یا غلام د بادار په خلاف پارول.......................................۵۲
په یو وخت کي تر یوه ډیر طلاقونه ورکول.......................................................۵۲
د اجازي پرته د یو چا کور ته ورننوتل یا کتل.......................................................۵۳
د روح لرونکي شي په اور کي سوځل.......................................................۵۳
په اولادونو کي برابري نه کول.......................................................۵۳
د بولو د څاڅکو څخه ځان نه ساتل.......................................................۵۴
د خلګو په لاره کي مرداري اچول.......................................................۵۴
پرته د ضرورته سپی ساتل.......................................................۵۴
پای.......................................................۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

الحمدالله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلوة والسلام علی اشرف الانبیاء محمد مصطفي (صلی الله علیه وسلم)· الهم صلی علی محمد وعلی آل محمد کما صلیت علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم انک حمید مجید. الهم بارک علی محمد وعلی آل محمد کما بارکت علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم انک حمید مجید. اما بعد!

هر وخت چي انسان بي لاري سوی دی، نو الله سبحانه وتعالی لارښوونکی ورته رالیږلی دی، تر څو د نورو لارو څخه يې راوګرځوي او پر مقصوده یعني مستقیمه لاره يي برابر کړی دی، بلاخره الله سبحانه وتعالی خپل دغه جریان د آخري پیغمبر حضرت محمد مصطفی (صلی الله علیه وسلم) په رسالت او کتاب قرآن کریم سره يې پای ته ورسوی. په اوسني عصر کي د بیلا بیلو سببونو د کبله د ګناهونو ډیرښت د عامي وباء یا ناروغۍ صورت ځان ته غوره کړی دی، دې طوفان ټول انسانان هغه که د مشرق دي او که د مغرب دي ټوله يې محاصره کړي دي، داسي حالت ته خبره رسیدلي ده، که چیري د الله (جل جلاله) یو بنده د ګناهونو څخه د حفاظت اراده وکړي، نو د دنیا فضا به ډیره ورته تنګه سي. په کومه ورځ چي ماته د دغه کتاب د لیکولو ویاړ را په برخه سو، په هم هغه لحظه ما ته دا احساس پیدا سو، چي الله سبحانه وتعالی زه په یوه لوی انعام سره ونازولم، سترګو او زړه مي دواړو د خوشحالۍ څخه ژړل چي زه حقیر انسان هم نن د اسلام د مبارک دین په هکله یو څه لیکم، قلم او ګوتي مي دواړه په لړزیدو وې، ځان مي د نړۍ یو خوشبخته انسان محسوساوه او داسي اُمیدونه راته پیدا کیدل چي ګوندي الله سبحانه وتعالی به د خپل مبارک دین په برکت ما عاجزه ته مغفرت او بخښنه وکړي، خپله لویه عفوه او کامیابي به را په برخه کړي، ددې تر څنګ ما ته به د اسلام د مبارک دین د هر اړخیز خدمت لپاره نور طاقت هم را په برخه کړي، او زه ددې شکر اداء کولو لپاره د اسلام مبارک دین ته د سر او مال په قرباني کولو سره خدمت وکړم او هیڅکله ځان ځیني ونه سپموم.
ومِن الله توفیق

درنو لوستونکو! دا چي زما او ستاسي تر منځ ددې کتاب د لوستلو د برکته ملګرتیا پیدا سوه، زه ستاسو ټولو لوستونکو څخه نړۍ نړۍ مننه کوم، چي خپل آرزښتمن وخت مو زما د کتاب و لوستلو ته ورکړی، زه ځان ستاسي ددې ښیګني پوروړي بولم او ستاسي لپاره لاسونه د لوی رب (جل جلاله) و دربار ته لپه کوم، الله (جل جلاله) دي ستاسي ژوند د اندیښنو او غمونو څخه په آمن کي کړي.

**په درنښت**

**فرید احمد (مبارز)**

۲۷/۳/۱۴۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کبیره او صغیره ګناه تعریف او تشریح

د علماؤو د یوې ټولی قول دا دی: هره ګناه کبیره ده، هیڅ صغیره ګناه وجود نه لري، ځکه چي په هره ګناه کي د الله سحانه وتعالی او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم)د ارشاد مخالفت دي.

د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) مخالفت چي څومره لږ وي، بیا هم غټه ګناه ده، ددې امله صغیره ګناه نه سي ورته ویل کیدلای. بیا چي د صغیره او کبیره ګناهونو کوم تقسیم مشهور دی هغه فقط اضافي او نسبتي دی، یعني ځیني ګناوي د نورو ګناهونو په مقابل کي صغیره دي. د شیخ ابواسحاق اسفرائني، قاضي ابوبکر باقلاني، امام الحرمین تقي الدین سبکي او د عامه اشاعره علماؤو (رحمة الله تعالی علیهم) همدا قول دی.

د جمهورو علماؤو مذهب دا دی: ګناهونه ځیني کبیره او ځیني صغیره دي ځکه چي پر دې خبره د ټولو اتفاق دی، ځیني ګناوي داسي دي چي د هغه کوونکی فاسق او مردود الشادة ګڼل کیږي، او بعضي بیا داسي دي چي د هغه کوونکي ته فاسق نه ویل کیږي او د هغه شهادت نه ردیږي. لومړی قسم ګناه ته په اصطلاح کي کبیره ګناه او دوهم قسم ته یې صغیره ګناه ویل کیږي. د لومړی ټولی د علماؤو او جمهورو اختلاف هم فقط د نامه اختلاف دی، په حقیقت کي کوم اختلاف نه سته، ځکه چي جمهور علماء چي کومو ګناهونو ته صغیره وایي، د هغوی دا مطلب نه دی چي په کولو کي یې کوم بدوالي نه سته یا لږ خرابه ده، بلکي د الله (جل جلاله) او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم)د مخالفت د حیثیته هره ګناه لویه او عذاب یې سخت دی. زواجر ملخصاً

امام غزالي (رحمة الله علیه) فرمایي: کومه ګناه چي انسان په بي باکي سره کوي، هغه کبیره ګناه ده که څه هم صغیره وي، او کومه ګناه چي ناڅاپه وسي او په زړه کي د الله سبحانه وتعالی څخه بیره، پښیماني او تاسف ور سره وي، هغه صغیره ده که څه هم غټه ګناه وي. والله اعلم

د کبیره او صغیره ګناه په تعریف کي د علماؤو اقوال مختلف دي: علامه ابن نجیم (رحمة الله علیه) په خپله رساله کي تقریباً څلویښت (۴۰) قولونه نقل کړي دي. همداسي علامه ابن حجر هیثمي (رحمة الله علیه) هم ډېر بیلا بیل قولونه را نقل کړي دي، مګر په ټولو کي ډېر جامع قول د اصحابو، تابیعنو او علماء کرامو څخه نقل سوی دی. هغه دا دی: پر کومه ګناه باندي چي په قرآن کریم یا حدیث کي د اور او دوږخ سزا راغلې وي هغه کبیره ګناه ده، او پر کومه ګناه باندي چي د اور او دوږخ سزا په ښکاره سره نه وي راغلې هغه صغیره ګناه ده.

د حضرت حسن بصري، سعد بن جبیر، مجاهد، ضحاک او نور علماء کرامو (رحمة الله تعالی علیهم) څخه هم دا تعریفونه را نقل سوي دي. زواجر

پر صغیره ګناه باندي همیشه توب یا تکرارن کول: امام رافعي (رحمة الله علیه) فرمایي: کومي ګناه ته چي صغیره ګناه ویل کیږي، دا تر هغه وخته صغیره ګناه ده، تر څو چي دوام او همیشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



توب پر ونه سي، کله کله وسي څوک چي پر صغیره ګناه باندي دوام وکړي، هغه د کبیره ګناه کوونکی سو، همداسي که څوک په ډیرو صغیره کناهونو کي بوخت سي، تر داسي حالته پوري چي د هغه پر اطاعاتو باندي غالب سي هغه هم فاسق او مردود الشهادة دي. کتاب زواجر

د رئیس المفسرین حضرت عبدالله بن عباس (رضي الله عنهم) څخه یو چا پوښتنه وکړه: یو سړی عمل لږ کوي، یعني نفلي عبادتونه لږ کوي پر فرضو او واجبو عمالو باندي اکتفاء کوي، نفلي عبادتونه نه کوي، ذکر او اذکار، تسبیحات ډیر نه کوي، مګر ګناوي یې هم لږ دي، یعني د ګناهونو څخه ځان ساتي دا سړی ښه دي او ستا خوښ دی، او که دي هغه سړی خوښ دی، چي نفلي عبادتونه هم ډیر کوي او ګناوي یې هم ډیري وي؟

مثلاً: د تهجد لمونځ هم کوي، د اشراق لمونځ هم کوي، تلاوت هم کوي، وظیفي او تسبیحات هم ډیر کوي، مګر ددې سره ګناوي هم ډیري کوي ستا په عقیده کوم یو ښه دی؟ د اول سړي عمل لږ خو ګناه یې هم لږ ده. د دوهم سړي اعمال ډیر خو ګناوي یې هم ډیري دي.

حضرت عبدالله بن عباس (رضي الله عنهم) په جواب کي وفرمایل: د ګناهونو څخه د ځان د حفاظت په مقابل کي هیڅ شی آهمیت نه لري، یعني انسان که د ګناهونو څخه ځان وساتي دا ډیر غټ نعمت دی او غټه فایده ده چي هیڅ عمل ددې مقابله نه سي کولای، نو هغه سړی چي ګناوي یې لږ وي هغه تر هغه سړي ښه دی چي ښه عمل یې ډیر وي، مګر ګناوي یې هم ډیري وي، ځکه چي اصل شی د ګناهونو څخه ځان ساتل دي.

علامه ابن نجیم (رحمة الله علیه) په خپله رساله کي لاندې کبیره او صغیره ګناهونه راوړي دي، چي په راتلونکو عنوانونو کي به ذکر سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## كبيره ګناهونه

۱: زنا كول. ۲: لواطت كول. ۳: شراب څيښل كه څه هم يو څاڅكي وي، همدارنګه د خرما د درختي څخه جوړ سوي شراب، د بنګو بوټي او داسي نور... د نشي شيان استمعالول. ۴: غلا كول. ۵: پر پاک لمني ښځي باندي د زناء تور پوري كول. ۶: په ناحقه سره قتل كول. ۷: په حقه سره شاهدي نه وركول. ۸: د درواغو شاهدي وركول. ۹: د يو چا مال غصبول، يعني په زور سره اخيستل. ۱۰: د درواغو قسم اخيستل. ۱۱: د جهاد د ميدان څخه پر شاه تګ، يعني پاته كيدل. ۱۲: سود خوړل كاروبار يې كول. ۱۳: د يتيم مال په ناحقه خوړل. ۱۴: رشوت اخيستل. ۱۵: د مور او پلار نافرماني كول. ۱۶: قطع رحمي كول، يعني د نژدې دوستانو حقوق نه ادا كول. ۱۷: د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) يو قول يا فعل ته قصداً د درواغو نسبت كول. ۱۸: د روژي په مياشت كي پرته له كومه عذره روژه ماتول. ۱۹: په تول او ترازو كي كمي كول. ۲۰: فرض لمونځ د خپل وخت څخه مخته يا شاته كول.

۲۱: زكات او روژه پر خپل وخت نه ادا كول، د عذر او ناروغي صورتونه ځيني مستثنا دي. ۲۲: د فرضي حج ادا كولو څخه پرته مړ كيدل. ۲۳: پر مسلمان باندي ظلم كول يا تاوان ورسول. ۲۴: د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) اصحابو ته بد رد ويل. ۲۵: علماء او د قرآن كريم حافظانو ته بد ويل د هغوی د بد نامولو لپاره كوښښ كول. ۲۶: ظالم ته د يو چا چغلي كول. ۲۷: خپله ښځه، لور يا يو بل قريب په خپل اختيار سره په حرامو اخته كول يا راضي كيدل. ۲۸: نابلده ښځه، حرام كار ته چمتو كول او ددې لپاره دلالي كول. ۲۹: د توان لرلو سره سره آمر بالمعرف نهي عن المنكر پريښوول. ۳۰: جادو زده كول بل ته ورښوول او عمل په كول. ۳۱: قرآن كريم تر حفظ كولو وروسته بيا هيرول. ۳۲: روح لرونكي شی مړ كول يا په اور كي سوځل لكه: مار، لړم، غالبوزه او داسي نور...

۳۳: ښځه د خپل خاوند څخه جلا كول او د خاوند د حقوقو د ادا كولو څخه منع كول. ۳۴: د الله سبحانه وتعالی د رحمت څخه نا اُميده كيدل. ۳۵: د الله سبحانه وتعالی د عذاب څخه نه بيريدل. ۳۶: د مردار سوي حيوانانو غوښي خوړل. ۳۷: د خنزير غوښه خوړل. ۳۸: چغلي كول. ۳۹: د مسلمان غيبت كول. ۴۰: ځُمار كول. ۴۱: په مال مصرفولو كي اسراف كول. ۴۲: د حاكم د حق څخه سر غړونه كول. ۴۳: خپلي ښځي ته د مور او لور په شان يا نومونو سره ويل. ۴۴: پر صغيره ګناه دوام كول.۴۵: پر ګناهونو باندي د يو چا سره مرسته كول، يا يې ګناه كولو ته چمتو كول. ۴۷: سروز يعني غزلي اوريدل. ۴۸: د خګلو په مخ كي ستر لوڅول. ۴۹: د يو چا پر حق بخل كول. ۵۰: د لوړي مرتبي اصحاب د كښته مرتبي د اصحابو سره برابرول. ۵۱: ځان وژل. ۵۲: د بولو د څاڅكو څخه ځان نه ساتل. ۵۳: په صدقه كولو سره احسان اچول او تكليف رسول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۴: د قضاء او قدر یعني تقدیر څخه انکار کول. ۵۵: د خپل امیر سره غداري کول. ۵۶: د نجومي او کاهن تصدیق کول. ۵۷: د یو چا لپاره د نذر او تقرب په ډول څاروي حلالول. ۵۸: لونګ، پرتوګ او نوري جامي د تکبر یا د تکبر څخه پرته تر بیجلکو کښته کول. ۵۹: د ګمراهي طرف ته خلک بلل یا دا ناوړه رسم رواجول. ۶۰: غلام خصي کول یا د هغه یو اندام پرې کول یا سخت تکلیف ورکول.۶۱: د احسان کوونکي ناشکري کول. ۶۳: په حرم شریف کي الحاد او ګمراهي خپرول. ۶۴: د خلګو پټ عیبونه لټول. ۶۵: هره داسي لوبه کول چي د هغې په حرمت کي د علماؤو اتفاق وي. ۶۶: مسلمان ته کافر ویل. ۶۷: د خپلو ښځو په حقوقو کي برابري نه کول. ۶۸: په لاس سره شهوت پوره کول. ۶۹: عالم پر خپل علم باندي عمل نه کول. ۷۰: غزلو ته رقص کول.۷۱: د دنیا محبت کول یعني دنیا ته ترجیع ورکول پر دین باندي. ۷۲: لغړزني هلک ته په شهوت سره کتل. ۷۳: د یو چا کور ته کتل یا د اجازي پرته ورننوتل.۷۵: زکات یا حج پرته د عذره ځنډول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صغیره ګناهونه

۱: نامحرمه ښځي ته قصداً کتل. ۲: د نامحرمه ښځي سره په یوازي ځای کي کښیناستل یا لاس ور وړل. ۳: پر انسان یا څاروي باندي لعنت ویل. ۴: هغه درواغ چي په هغه کي چاته تاوان ونه رسیږي. ۵: بام یا لوړ ځای ته ختل چي د هغه ځای څخه د خلګو کورنه معالومیږي. ۶: د یو مسلمان بد ویل که څه هم په اشاره یا کنایه سره وي او خبره هم رښتیا وي. ۷: د یو مسلمان سره پرته د کوم عذره تر درو (۳) ورځو زیات خبري نه کول یا اړیکي ور سره ختمول. ۸: پرته د علم او تحقیق څخه د یو چا د طرفه جنګ کول او د تحقیق څخه وروسته د حق په خلاف جنګ کول. ۹: په لمانځه کي په اختیار سره خندل یا د یو غم د کبله ژړل. ۱۰: نارینه د ښځي جامي اغوستل. ۱۱: په تکبر او غورور سره تګ کول. ۱۲: د فاسق سره ناسته او ولاړه کول. ۱۳: په مکروه وختونو کي لمونځ کول یعني لمر خاته او لمر لویده زوال.

۱۴: په منع سوو ورځو کي روژه نیول لکه: اخترونو او د تشویق ورځي. ۱۵: مسجد ته ناپاکي وړل. ۱۶: مسجد ته لیونۍ یا دونه کوچنیان وروستل چي ځیني د ناپاکي خطره وي. ۱۷: د قضاء حاجت پر مهال قیبلي ته مخ یا شاه ورګرځول. ۱۸: په حمام کي بلکل ځان لوڅول که څه هم د خلګو په مخ کي نه وي. ۱۹: صوم صال یعني: په داسي ډول روژه نیول چي په منځ کي یې هیڅ روژه مات نه وي. ۲۰: د کومي ښځي سره چي یې اظهار کړی وي، د ظهار د کفاري د ادا کولو څخه مخکي جماع ورسره کول. ۲۱: د ښځي لپاره د محرمه پرته سفر کول. ۲۲: د خوراک څیښاک ضروري شیان د ګراني بیي لپاره ساتل یا جمع کول. ۲۳: د خلګو په معاملو کي خنډ اچول. ۲۴: د صحرا خلګ چي کوم مال بازار ته د پلورلو لپاره راوړي، هغه په کمیشن او دلالي سره خرڅول.

۲۵: ښار ته د راتلونکي مال، بازار ته د رارسیدو څخه مخکي دباندي رانیول. ۲۶: د جمعي د آذان څخه وروسته یو شی رانیول او خرڅول. ۲۷: د سودا یا جنس عیب د خرڅولو په وخت کي پټول. ۲۹: د جنابت په حالت کي آذان کول. ۲۹: د جنابت په حالت کي مسجد ته پرته د عذره ننوتل. ۳۰: په لمانځه کي پر تشي لاس نیول. ۳۱: په لمانځه کي غټ پټو داسي پر ځان اچول چي لاسونه ځیني رایستل مشکل وي. ۳۲: په لمانځه کي په کالو بازی کول. ۳۳: د لمونځ کوونکي په مخ کي د هغه وخواته کښیناستل یا دریدل. ۳۴: په لمانځه کي راسته او چپه خواته کتل. ۳۵: په مسجد کي د دنیا خبري کول. ۳۶: په مسجد کي داسي کار کول چي هغه د عبادت وړ نه وي. ۳۷: په روژه کي د خپلي ښځي څخه مچه اخیستل چي تر حد زیاته اندیښنه وي. ۳۸: زکات د بې کاره مال څخه ادا کول. ۳۹: حیوانات د څټ له خوا حلالول. ۴۰: د حلال او ذبحه سوي حیوان مخصوص اعضاء لکه: مثانه او مرغړي خوړل. ۴۱: د حکومت له طرفه پرته د ضرورته د اجناسو نرخ ټاکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۲: د بالغي او عاقلي انجلۍ نکاح د ولي د اجازې پرته کول یا خپله کول. ۴۳: نکاح الشغار یعني موخۍ کول. ۴۴: ښځي ته په یوه وخت کي تر یوه ډېر طلاقونه ورکول. ۴۵: ښځي ته پرته د ضرورته بائن طلاق ورکول ولي چي په رجعي طلاق سره هم جلاوالی کیدلای سي. ۴۶: د حیض په حالت کي طلاق ورکول. ۴۷: په طهر کي یې چي جماع کړي وي، په هغه کي طلاق ورکول. ۴۸: طلاق سوي ښځي ته د جماع پواسطه رجوع کول ځکه چي لومړی رجوع په خبرو سره په کاره ده. ۴۹: ښځي ته د تکلیف رسولو او عدي اوږدولو لپاره رجوع کول.۵۰: ښځي ته د تکلیف رسولو لپاره ایلاء ورکول یعني د ورتللو څخه قسم اخیستل. ۵۱: په اولادونو کي د شیانو په ورکولو کي برابري نه کول. ۵۲: د قاضي او حاکم د فریقینو په عریضو کي په خپله معامله یا توجه نه کول. ۵۳: د پاچا انعام قبلول. ۵۴: د کوم چاچي حرام ډېر وي، حلال یې لږ وي، د هغه سوغات یا دعوت پرته د عذره قبلول.

۵۵: د غصب سوي مځکي د ګټي څخه خوراک کول یا مصرفول. ۵۶: غصب سوي مځکي ته ننوتل که څه هم د لمانځه لپاره وي. ۵۷: د بل چا په مځکه کي د هغه د اجازي پرته تګ کول. ۵۸: د یو حیوان، پزه، غوږ او داسي نور... څه پرې کول. ۵۹: یو حربي کافر یا مرتد ته تر درو (۳) ورځو پوري د توبي کولو او دعوت ورکول څخه مخکي وژل. ۶۰: مرتده ښځه وژل. ۶۱: په لمانځه کي تلاوت واجب دی هغه پریښول یا ځندول. ۶۲: د لمانځه لپاره د یو خاص سورت قرآئت ټاکل. ۶۳: پرته د ضرورته په یوه قبر کي دوه (۲) نفره ښخول. ۶۴: د جنازې لمونځ دننه په مسجد کي کول. ۶۵: د تصویر په وړاندي لمونځ کول هغه که راسته طرفه ته وي که چپه طرفه ته وي. ۶۶: غاښونه د سروزرو په تارونو تړل. ۶۷: د سرو او سپینو زرو لوښي استعمالول. ۶۸: د مړي مخ مچول. ۶۹: پرته د ضرورته کافر ته په سلام سره پیل کول. ۷۰: د اسلام پر دښمنانو یا مخالفینو وسله خرڅول. ۷۱: د خصي غلام څخه د خدمت په حیث کار اخیستل یا د هغه ګټه خوړل.

۷۲: د خپل زړه د ساتیري لپاره غزلي ویل. ۷۳: د عبادت د شروع کولو وروسته باطلول. ۷۴: د ښځي یا  مینځي سره په داسي حالت کي جماع کول منع دي، چي بالغ سړی یا ښځه ورسره وي. ۷۵: د یو حاکم یا امیر د استقبال لپاره وتل. ۷۶: د خلګو لاره بندول. ۷۷: د آذان تر اوریدلو وروسته په کور کي کښیناستل او د اقامت انتظار کول. ۷۸: تر مړیدو وروسته زیات خوراک کول یا پرته د لوږي خوراک کول. ۷۹: د عالم، بزرګ، پلار او مور څخه پرته د یو چا لاس مچول. ۸۰: فقط د لاس په اشاره سره سلام کول یعني ویل. ۸۱: د قرآن کریم تلاوت کوونکی د خپل پلار یا اُستاذ څخه پرته د تعظیم په توګه یو چاته دریدل. ۸۲: پر مسلمان بدګوماني کول. ۸۳: حسد کول. ۸۴: تکبر کول. ۸۵: غزلي اوریدل. ۸۶: جنب سړی پرته د عذره په مسجد کي پاته کیدل. ۸۷: د مسلمان په غیبت اوریدولو سره پټه خوله پاته کیدل. ۸۸: د غم په وخت کي په زوره آواز سره ژړل او سینه وهل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۹: د امام څخه که خلک ناخوښه وي، د هغو امامت کول، که څه هم د هغو ناخوښي بې سببه وي او کوم عیب په کښي نه وي. ۹۰: د خطبي په وخت کي خبري کول. ۹۱: په مسجد کي د خلګو پر اوږو اوښتل. ۹۲: د تګ راتګ په لاره کي ناپاکي غورځول. ۹۳: د خپلو اولادونو سره پریوتل یا بیدیل کله چي یې عمر تر اوو (۷) کالو زیات وي. ۹۴: د قرآن کریم تلاوت د جنابت، حیض او نفاس په حالت کي کول. ۹۵: په بې کاره او باطلو شیانو وخت ضایع کول.

۹۶: بې فایدي خبري کول. ۹۷: د یو چا په تعریف کي مبالغه کول. ۹۸: ښکنځل کول یا پوچ رد ویل. ۹۹: په خندا او مسخرو کي زیاتوب کول. ۱۰۰: د یو چا راز ښکاره کول. ۱۰۱: د دوستانو او ملګرو په حق کي کوتاهي کول. ۱۰۲: وعده خلافي کول. ۱۰۳: ډیره غصه کول. ۱۰۴: بې غیرتي کول یعني خپل دوستان او خپلوان د قدرت سره سره د ظلم څخه نه ژغورل. ۱۰۵: زکات یا حج پرته د عذره ځنډول. ۱۰۶: د کهالي د امله جماعت پریښول. ۱۰۷: د حق په خلاف طرفداري کول یا دریدل. ۱۰۸: ذمي ته په کافر سره خطاب کول، کله چي هغه ته په دې کي د تکلیف احساس وي. ۱۰۹: په ناحقه او باطلو الفاظو سره دعا کول. ۱۱۰: په مسجد کي ناپاکي غورځول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مسلمان سپکاوی یا ټوکي باندي کول

په قرآن کریم کي الله سبحانه وتعالی فرمايي: (لَایَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰۤی اَنْ یَّکُوْنُوْا خَیْرًا مِّنْهُمْ وَلَانِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰی اَنْ یَّکُنَّ خَیْرًا مِنْهُنَّ). ژباړه: ټوکي دي نه کوي هیڅ یو قوم له قوم ستاسي څخه په بل باندي، ښائي چي وي به دغه بهتره او غوره د دوی څخه او نه ښځي پر ښځو نورو باندي ممکنه ده دا چي هغوی به غوره وي له دوی څخه. (سورت الحجرات آیت ۱۱)

د پورتني آیت تفسیر: ای هغو کسانو چي ایمان یې راوړی دی ټوکي او سپکاوی دي نه کوي هیڅ یو قوم له تاسي څخه په بل باندي چي وي به دغه بهتره، غوره (په نزد الله) د دوی څخه، او نه ښځي له تاسي څخه پر نورو ښځو ممکنه ده دا چي هغوی به غوره وي له دوی څخه.

د سپکاوي معنا دا ده چي د یو چا توهین او یا د هغه عیب په داسي ډول ښکاره کړې، چي خلګ پر وخاندي په دې کي ډېر صورتونه داخل دي، مثلاً: د یو چا پر تګ، ناسته او ولاړې خندل. پر خبرو او کار یې خندل. د سترګو، لاسونو او پښو په اشاره کولو سره د هغه عیب ښکاره کول. په اوسني عصر کي ټول په دغه کبیره او سخت عذاب لرونکي ګناه اخته دي، عام او خاص حال دا چي د قرآن کریم په ذکر سوو آیتونو کي ددې ګناه حراموالی بیان سوي دي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي: (وَیْلٌ لِّکُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ). ژباړه: هلاکت دی هر پسي شاعیب را ایستونکي لره مخامخ طعنې ورکوونکي لره. (سورت الهمزة ـ آیت ۱)

د پورتني آیت تفسیر: هلاکت (افسوس) دی د هر عیبګر (عیب ویونکي) او غیبت کوونکي لپاره.

بل ځای کي الله (جل جلاله) فرمايي: (یٰوَیْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْکِتٰبِ لَایُغَادِرُ صَغِیْرَةً وَّلَاکَبِیْرَةً اِلَّا اَحْصٰهَا). ژباړه: ای هلاکه زموږ څه حال دی ددې اعمالنامي چي نه پرېږدي (ګناه) کوچنی او نه لویه مګر چي حساب کړي ئې دي هغه. (سورت الکهف ـ آیت ۴۹)

د پورتني آیت تفسیر: او وائي به ای هلاکه زموږ (راسه دغه دی وخت دی) څه حال دی ددې اعمالنامې (زموږ) چي نه پرېږدي (ګناه) کوچنی او نه لویه مګر چي حساب کړي ئې دي هغه (ټولي).

په تفسیر کي عبدالله بن عباس (رضي الله تعالی عنهم) فرمايي: د صغیره څخه مطلب د یو مسلمان په استهزاء یعني په سپکاوي سره خندا کول او د کبیره څخه مطلب پر هغه باندي قهقه یعني په زوره خندا کول.

حضرت عایشه صدیقه (رضي الله عنها) فرمايي: یو ځل ما د یو چا پیښنې وکړې، رسول (صلی الله علیه وسلم) منع کړم او ویې فرمایل: ما ته که هر څومره شتمني راکړه سي بیا به هم د یو چا پیښنې ونه کړم. ابو داود، ترمذي، تخریج احیاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت حسن (رضي الله عنه) فرمايي:- حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: کوم کسان چي په نورو پسخند وهي، په آخرت کي به د هغوی لپاره د جنت یو دروازه خلاصه سي او ورته را وبه بلل سي، کله چي هغوی هلته ورسیږي، نو به دروازه به ورته بنده سي، بیا به بله دروازه ورته خلاصه سي او هغوی به ورته را وبلل سي، کله چي هلته ورسیږي، بیا به ورته بنده سي، دغه ډول د جنت ټولي دروازې به ورته خلاصي سي او بیرته به ورته بندي سي، تر دې پوري چي هغوی به مایوسه سي او په وربللو سره به هم د جنت دروازي ته بیا ستانه نه سي.

روواه البيهقی مرسلا، ترغيب المنذري

د یو سړي باد د ږغ سره پرې سو، خلګو وخندل، حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په خطبه کي ورباندي سخته تنبیه وکړه او ویي فرمایل: کوم عمل چي تاسي ټول په خپله هم کوی پر هغه ولي خاندي؟

حضرت معاذ بن جبل (رضي الله عنه) روایت کوي، د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) ارشاد دی: کوم سړی چي یو چا ته د ګناهونو عار او پیغور ورکوي، هغه به تر هغه وخته مړ نه سي، تر څو خپله په هغه ګناه اخته نه سي. احمد بن منیع (رضي الله عنه) فرمایي: دلته د ګناه څخه هغه ګناه مراد ده کوم چي توبه ځیني کښل سوي وي. ترمذي، نخریج احیاء

ځیني خلګ د ناخبرتیا یا غفلت د کبله (استهزاء) او تمسخر په مزاح یعني خوش طبعي کي راولي، په خلګو رشخند وهي او مسخري پر کوي حال دا چي په دواړو کي لوی توپیر دی.

جایز مزاح: کوم چي د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) څخه ثابت دی، دا شرط په کښي سته چي کومه خبره د حقیقت خلاف نه وي، د چا زړه هم آزار نه سي او هغه هم د تل لپاره مشغلتیا او عادت ونه ګرځوي کله کله اتفاقاً وسي. احیاء العلوم

حضرت انس (رضي الله عنه) فرمایي: حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) تر ټولو زیات خوش طبع، خنده رویه او خندوونکی وو. سبل الهدی والرشاد

حضرت ابن عمر (رضي الله عنهم) فرمایي:- د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) ارشاد دی: بیشکه! زه مذاح کوم او حق خبره کوم. رواه الطبراني في الکبیر

حضرت ابوهریره (رضي الله عنه) فرمایي: خلګو وویل: یا رسول الله! ته زموږ سره مزاح کوې؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: زه رښتیني خبري کوم. رواه البخاري في الادب والترمذي واحمد

د حضرت انس (رضي الله عنه) څخه روایت دی:- حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) دته وفرمایل: ای د دوو غوږونو والا. ابو داود، ترمذي

د حضرت انس (رضي الله عنه) څخه روایت دی: یوه سپین سري میرمن د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خدمت کي حاضره وه، یوه پوښتنه یې وکړه: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مزاحاً وفرمایل: هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین سرې ښځه به جنت ته ولاړه نه سي. د لمانځه وخت سو، حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) لمانځه ته ولاړی، سپین سري ښځي ډېر وژړل تر دې پوري چي حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) تشریف راوړ، بي بي عایشې (رضي الله عنها) ورته وویل: یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)! دا ښځه ستا ددې وینا څخه چي هیڅ سپین سرې به جنت ته نه ځي ددې امله ژاړي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وخندل او ویې وویل: هو! هیڅ سپین سرې به جنت ته نه ځي، یعني الله سبحانه وتعالی به یې ځوانه کړي، بیا به جنت ته ځي. (ترمذي)

دا ځکه چي د الله (جل جلاله) ارشاد دی: (إِنَّآأَنْشَأْنٰهُنَّ إِنْشَآءً (۳۵) فَجَعَلْنٰهُنَّ أَبْكَارًا (۳۶) عُرُبًا أَتْرَابًا).

ژباړه: بیشکه! موږ نوي پیدا کړي دي دغه حوري په یو ښه پیدا کولو سره نو ګرځولي مو دي دوی پیغلي، عشقاني، همزولي. (سورت الواقعه ـ آیت ۳۵ ـ ۳۶ ـ ۳۷)

د پورتني آیتونو تفسیر: موږ نوي پیدا کړي دي دغه حوري په ښه پیدا کولو سره، نو ګرځولي مو دي دوی پیغلي، عشقاني (پر جنتیانو)، همزولي.

استهزا: پر یو چا پسخند وهل او مسخري یا ټوکو کولو کي د مخاطب د زړه آزار یقیني دی، دا کار د اُمت په اجماع سره حرام دی، او دا په جائز مزاح کي داخلولو سره د ګناه څخه پرته ناپوهي هم ده. زواجر

پسخند وهل یا مسخرې کول کبیره ګناه ده د کوونکي لپاره کومه دنیوي او آخروي ګټه نه لري، مګر عام مسلمانان د غفلت او بي پرواهي له کبله په کښي بوخت دي، په دې ټولو مثالونو کي کومه د حقیقت خلاف خبره نه ده سوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غيبت کول حرام دی

په يو چا پسي د شاه له خوا داسي څه ويل يا واقعي عيب يي ښکاره کول، چي هغه په خبر سي، وايي وري او په خوابدی سي، دې ته غيبت ويل کيږي. کبيره ګناه ده په قرآن کريم او احاديثو مبارکو کي يې د سخت عذاب يادونه سوي ده.

د حضرت ابو هريره (رضی الله عنه) څخه روايت دی:- رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: تاسو پوهيږی غيبت څه شی دی؟ صحابه کرامو وفرمايل: الله (جل جلاله) او د هغه رسول (صلی الله عليه وسلم) ښه پوهيږي، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: غيبت دې ته وايي چي تاسو د خپل مسلمان وررور په داسي ډول يادونه وکړی، چي هغه پرې خفه کيږي، صحابهٔ کرامو وفرمايل: که هغه خبره په هغه کي وي، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: که په هغه کي هغه خبره موجوده وي چي تاسو ئې کوی، نو دا غيبت سو او که په هغه کي هغه شی موجود نه وي، کوم چي ته يې وايې، نو پر هغه دې بهتان ولګوي چي تر غيبت لويه ګناه ده. رواه مسلم

تشريح: غيبت کول او اوريدل هم د هغو ګناهونو په سر کي ځای لري، کوم چي نن سبا ډيرو خلګو متاسفانه د ګناهونو د فهرست څخه ايستلي دي، نن سبا متاسفانه غيبت زموږ د مجلسونو نه بيليدنوکي برخه ګرزول سوي ده. د غيبته پرته مجلس بې خونده ورته ښکاري، کله چي دوه کسان سره يو ځای کيږي، خامخا د دوی دريم کس غيبت شروع کوي او په ډير خوند بانديي اخته وي، دې ته بالکل فکر نه کوي چي دا ګناه ده، په دې هکله به پوښتنه را څخه کيږي او ددې ناوړه کار سزا به راکول کيږي.

د غيبت کولو د ناجائز صورتونو تفصيل:- ۱: د غيبت حلال ګڼل او کول يې، مثلاً: غيبت کوونکی د غيبت څخه منع کړي، نو هغه په جواب کي ورته ووايي: دا غيبت نه دی، ځکه چي زه ريښتيا وايم دا کس کفار دی، ځکه دا يقيني حرام حلال ګڼي. ۲: د نوم د ذکر کولو څخه ماسيوا د يو چا غيبت کول د داسي کس په مخ کول چي هغه ته دغه کس معلوم او پيژني يې. ۳: د يو متعين کس غيبت کول، دا هم کبيره ګناه ده.

د غيبت کولو د جائز صورتونو تفصيل:- ۱: د ظلم د ختمولو لپاره چي د ظلم په دفعه کولو قادر وي په وړاندي غيبت کول. ۲: د منکر د ختمولو په نيت د طاقت لرونکو خلګو په وړاندي غيبت کول. ۳: د شرعي حکم د معلوملو لپاره د مفتي په مخ کي غيبت کول، مګر دلته هم د نوم پټول يعني د نوم نه ښوول غوره کار دی. ۴: د يو چا د شر څخه د حفاظت لپاره د هغه غيبت کول. ۵: د ښکاره ګناه کوونکي غيبت کول. هو! فقط د هغه ګناه ذکر کول جائز دي، کوم چي دی په اخته يي او په ښکاره سره يي کوي، د پټو ګناهونو ذکر کول يي جائز نه دي. ۶: د تعارف يعني د پيژندلو لپاره د يو چا غيبت کول، لکه: اعور، اعمش، غل او داسي نور دا په دې شرط جائز دي، چي ددې څخه ماسيوا تعارف يعني پيژندل يي ناممکن او مشکل وي. والتفصيل في احسن الفتاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښکنځل او بې حیاء خبرې کول

حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: د ښکنځلو څخه ځان وژغورئ، چې الله سبحانه وتعالی بې حیایي او فحش ویل نه خوښوي. رواه ابي هريرة

د حديث شريف مفهوم دی: مسلمان ته ښکنځل کول فسق او جنګ ورسره کول کفر دی. بخاري، مسلم

حضرت جابر (رضی الله عنه) چې کله مسلمان سو، نو حضر محمد (صلی الله علیه وسلم) د هغه وعدي واخستلې. ۱: چا ته به ښکنځل نه کوې، جابر (رضی الله عنه) فرمايي: الحمدالله ما دا وعده پر ځای کړه، ددې وروسته مي نه شريف سړي يا غلام ته ښکنځل وکړه او نه هم يو اوښ، بزې يا يو بل حيوان ته. ۲: هيڅ صالح عمل لږ او خوار مه ګڼه او مه يې پرېږده. ۳: دا چې د يو مسلمان سره ليدنه کوې، نو په ورين تندي او په ښو اخلاقو ورسره وينه. ۴: خپل پای جامه يعني پرتوګ يا لنګ تر بجلکو لوړوه، د کښته کولو څخه يې ډير ځان وساته ځکه چې دا د تکبر نښانه ده. ۵: که يو څوک پر تا داسي عيب ولګوي کوم چې په تا کي يې ويني، نو ته د هغه په بدله کي د هغه عيب مه لوڅوه، کوم چې ته يې په ده کي وينې. ابو داود، ترمذي

د حديث شريف مفهوم دی: کوم سړی چې پر غلام د زنا تهمت ولګوي، نو که څه هم په دنيا کي شرعي حد نه پرې جاري کيږي، خو په قيامت کي به قذف ورباندي جاري کيږي. بخاري، مسلم

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص (رضی الله عنه) يوه ورځ خپلي عمه ته د ليدني لپاره ورغلی، هغې ډوډۍ ورته را وغوښتله مينځه په ډوډۍ راوړلو کي وځنډيدله، نو د هغې د خولې څخه ووتل زنا کاري ولي ډوډۍ ژر نه راوړې؟ عمرو بن العاص (رضی الله عنه) وفرمايل: تا ډيره غټه خبره وکړه، آيا ته ددې په زنا خبره يې؟ هغې وويل: سوګند په الله! ما ته هيڅ خبرتيا نسته د قهره مي وويل، عمرو بن العاص (رضی الله عنه) وويل: ما د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه اوريدلي دي، کوم سړی يا ښځه چې خپلي مينځې ته زانيه ووايي، حال دا چې په زنا يې خبر نه وي، نو د قيامت په ورځ به يې دا مينځه په دورو ووهي. رواه الحاكم

د حديث شريف مفهوم دی: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هغو مشرکانو کافرانو ته ښکنځل کول هم منع کړي، کوم چې د بدر په غزا کي مړه سوي دي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: هغوی ته د ښکنځلو هيڅ آثر نه رسيږي، ژوندو ته تکليف ورکوی. رواه النسائي

همداسي د يو بل حديث شريف ارشاد دی: مؤمن پيغور ورکوونکی، لعنت کوونکی، بې حياء خبري کوونکی نه وي. ترمذي

د ښکنځلو او بې حياء خبرو څخه مطلب داسي څه کول يا ويل دي، چې انسان ځيني شرميږي، هغه په ښکاره الفاظو سره کول بيا که هغه حقيقت ولري، يوه ګناه ده او که د حقيقت مخالف

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، نو بله ګناه د بهتان هم ده، لکه: د يو سړي مور او خور ته د حرام کار کولو نسبت کول. په ښکنځلو کې ډېر مور، خور او لور ته د حرام فعل نسبت کيږي، چې دا ټول په کبيره ګناه کې داخل دي.

د پورتنيو احاديثو څخه دا ثابيتيږي چې ښکنځل کول يا فحش ويل و يو کافر او ځاروي ته هم حرام دي، نو مسلمان ته ښکنځل کول به څونده ګناه لري، خصوصاً هغه بې علمه اشخاص چې ګام پر ګام ښکنځل کوي او ددې کبيره ګناه په هکله هيڅ فکر هم نه کوي، او نه يې پرواء لري الله (جل جلا له) دي ټول اُمت مسلمه ته ددې کبيره ګناه کولو څخه نجات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر انسان یا څاروي باندي لعنت ویل

د حدیث شریف ارشاد دی: پر کوم سړي چي څوک لعنت وایي، که هغه د لعنت مستحق نه وي، نو دغه لعنت پر هغه ویونکي باندي ورګرځي. ابو داود، ترمذي

د حدیث شریف ارشاد دی: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د یو سړي سره په سفر کي وو، هغه سړي پر خپل اوښ باندي لعنت وویلی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: پر کوم اوښ چي لعنت وایي، پر هغه باندي زموږ سره سفر مه کوه.

د لعنت معنا: یو څوک د الله (جل جلاله) د رحمت څخه لیري ګڼل، یا په غضب او قهر کي اخته کول، یا دغه انسان دوږخي بلل، لکه الله (جل جلاله) دي د خپل رحمت څخه لیري کړه، یا دي د الله (جل جلاله) غضب در باندي نازل سي، یا په دوږخ کي ولویږي.

لعنت پر درې (۳) ډوله دی:

لومړی: پر کومو عملونو او خصلتونو باندي چي په قرآن کریم او حدیث شریف کي لعنت پر ویل سوی وي، پر هغو عامو اوصافو سره لعنت کول.

د قرآن کریم ارشاد دي: (لعنت الله علی الکافرین) یا (لعنة الله علی الظالمین). ژباړه: پر کافرانو او ظالمانو دي د الله (جل جلاله)لعنت وي. دا په اتفاق سره جایز دي.

دوهم: پر مخصوصي ګمراه ډلي باندي د ضلالت او د ګمراهي په صفت سره لعنت کول، مثلاً: پر یهودو او نصاراوو دي لعنت وي، یا پر روافضو او خوارجو دي لعنت وي، یا پر سود خورو او شرابیانو دي لعنت وي، او داسي نور... چي په کښي د یو شخص یا یو جماعت ځانګړی تعین نه وي سوی، دا صورت هم په اتفاق سره جائز دی.

دریم: دا چي د یو خاص سړي، یزید، یا یو خاص جماعت، مثلاً: د فلاني ښار اوسیدونکي، یا د فلاني قبیلي خلګ، یا فلانی کسبګر، یا پر فلاني قوم دي لعنت وي، دا دیره خطرناکه معامله ده، په دې کي ډیر احتیاط په کار دی.

کوم کس یا کومه ډله چي د کومو اعمالو په سبب د لعنت مستحق ګرځي:

لومړی: باید د هغه بشپړه پلټنه وسي، چي فلانی شخص یا قوم هغه عملونه تر سره کړي، ډیري بدګماني یا غلطي خبري په کښي وي، پرته د تحقیقه فقط په ګمان باندي لعنت کول حرام دي.

دوهم: د دغو اعمالو د امله هم هغه وخت د لعنت مستحق ګرځي، چي دا معلومه سي چي توبه یې نه ده ځیني کښلې او تر مرګه هم توبه نه ځیني کاږي، معلومه خبره ده چي د یو خاص قوم یا خاص شخص د توبي کښلو په اړه پرته د وحي څخه نه معلومیږي، ددې کبله دا حق فقط نبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او رسول ته حاصل دی، د یو خاص قوم یا خاص شخص په اړه د وحي په ذریعه دا معلومه کړي، چي په فلانی کبیره کناه کي اخته سوی دی، توبه یې نه ده کښلې او آینده یې هم نه کاږي، پر هغوی لعنت وکړي بل کوم چاته ددې حق نسته ددې امله ډیرو عالمانو پر یزید باندي لعنت ویل جائز نه دي ګڼلي. احیاء العلوم

مطلب دا کوم څوک چي په قرآن کریم او حدیث کي د لعنت مستحق ګڼل سوی وي، ددې څخه پرته پر یو شخص یا قوم باندي لعنت ویل حرام دي، دا هم کبیره ګناه ده په خاص ډول بیا ښځي په دې ګناه باندي ډیري اخته دي او د دوی پر ژبه جاري الفاظ خدای وهلې، د خدای په غضب اخته سې، دغه ټول الفاظ په لعنت ویلو کي راځي، حرام کار دی او ویوونکي ته یې په دنیا او آخرت کي د سختي سزا وعده ورکړل سوې ده، الله تبارک وتعالی دي ټول مسلمانان ځیني وساتي. آمین

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عالمانو او د الله سبحانه وتعالی د وليانو بې ادبي يا بي عزتي کول

حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: درې (۳) کسان دي چي بي ادبي او بي عزتي يې فقط منافق کولای سي، يو سپين ږيری مسلمان، دوهم عالم او دريم عادل باچا دی. الطراني، الترمذي

د حديث شريف ارشاد دی:- حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: هغه سړی زموږ يعني مسلمانانو څخه نه دی، چي د سپين ږيرو احترام ونه کړي، زموږ پر کوچنيانو شفقت ونه کړي او زموږ د علماؤو عزت ونه کړي. احمد با سند حسن

امام بخاري (رحمة الله عليه) د انس او ابوهريرة (رضي الله عنهم) څخه په يو قدسي حديث کي روايت کړي دی:- چي الله (جل جلاله) فرمايي: څوک چي زما د يو ولي او دوست سپکاوئ وکړي، هغه ګواکي وما ته د جنګ اعلان وکړ. په يو بل روايت کي راغلی دي: چي زه ورته د جنګ اعلان کوم.

د بخاري شارح امام زرکشي (رحمه الله عليه) د پورتني حديث په شرحه کي فرمايي: په دې حديث کي فکر وکړی، چي د علماؤو او اولياؤو د بي ادبي سزا يې د سود خوري برابر ګڼلي ده.

ځکه چي د سود خوړونکي په اړه په قرآن کريم کي ارشاد دی: (فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَأْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ ج). ژباړه: پس که ون کړ تاسي (دا کار) نو آګاه سئ تاسي په جنګ له (طرفه د) الله او د رسول الله د ده. (سورت البقره ـ آيت ۲۷۹)

د پورتني آيتونو تفسير: پس که ونه کړ تاسي (دا کار) نو آګاه سئ (او ځان تيار کړی) تاسي په جنګ له (طرفه د) الله او رسول د ده.

حافظ امام ابن عساکر (رحمه الله عليه) فرمايلي دي: ای عزيزه! الله سبحانه وتعالی دي موږ او تاسي ته کامل توفيق را کړي او د سمي لاري هدايت دي را ته وکړي، ښه پوه سه چي د عالمانو غوښي زهرجني دي او د الله سبحانه وتعالی عادت معلوم او مشهور دی، چي د علماؤو اهانت کوونکی رسوا او شرمنده کوونکی او څوک چي پر عالمانو نيوکه کوي او عيب يې لټوي، الله سبحانه وتعالی به يې د مرګ څخه مخکي د زړه په ناروغي اخته کړي.

د علماؤو د زهرجنو غوښو څخه اشاره و دې ته ده چي د يو چا غيبت يې په قرآن کريم کي د هغه د غوښو خوړل ګڼلي دي، نو کوم څوک چي د علماؤو غيبت کوي، هغه ګواکي د هغه غوښي خوري، مګر غوښي يې زهرجني دي، څوک چي يې خوري يعني غيبت يې کوي دين به يې ورانيږي او د زړه د ناروغي مطلب دا دی چي په ده کي به د ښه او بد احساس پا ته نه سي، ښو ته به بد او بدو ته به ښه ګمان کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هیچا غیبت او سپکاوی جائز نه دی، څوک چي د علماؤو غیبت کوي، هغه به په سخت الهي عذاب اخته سي، علماء لیکي: د دغه سړي آخره خاتمه به یې ډېره خطرناکه وي. عام خلګ په دې بې پرواهي کي غرق دي، د تحقیق او پلټني څخه پرته پر علماؤو اعتراض یا نیوکي کوي او غیبت یې کوي، د عوامو دغه بې احتیاطي ډېري بربادی رامنځته کړي دي.

اول خو د تحقیقه او سنده پرته یو څوک خپل مقتدا یا امام وګرځوي، که هغه په حقیقت کي عالم نه وي، نو ګام پر ګام خپله په ګمراهي کي اخته سي، نور خلګ هم ګمراه کړي، بیا چي د هغه په ګمراهي او بد عمالو خلګ خبر سي، نو بدګومانه سي وروسته دغه بدګماني د هغوی فکرونه خراب او ګډوډ کړي، بیا پر ټولو علماؤو باندي بدګمانه کیږي، چي نتیجه یې د دین او دنیا بربادي ده، ددې کبله ضروري ده چي اول خو یو څوک د مولوي، مولانا او عالم په ویلو او فهمولو کي تلوار ونه کړي، که د هغه ښکاره خطاء یا ګناه ویني، نو دغه عمل دي خامخا بد وګڼي، مګر هغه ته دي بد نه وایي ځکه کیدای سي، هغه د یوه سببه معذوره وي، که چیري پوره تحقیق وسي، نو د اسلام دین ته به هیڅ تاوان ونه رسیږي او اصلاحات به هم راسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درواغ ویل یا د درواغو قسم اخیستل

حضرت ابوبکر صدیق (رضی الله عنه) فرمایي: یو ورځ حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د خطبي لپاره ودریدی، نو ویې ژړل بیا یې وفرمایل: د درواغ ویلو څخه ځان وساتی، ولي چي درواغ او بد کاري سره یو ځای دي او دا دواړه به په دوږخ کي وي. ابن ماجه، نسائي، في الیوم والیلة تخریج الاحیاء

د یو بل حدیث شریف ارشاد دی: درواغ ویل رزق کموي.ابوالشیخ ابو هریرة اسناده ضعیف، تخریج الاحیاء

د حدیث شریف ارشاد دی: بربادي ده د هغه سړي لپاره چي د خلګو د خندولو لپاره درواغ وایي، بربادي ده د هغه لپاره، بربادي د هغه لپاره. ابو داود، ترمذي، وحسنه النسائي في الکبري تخریج الحیاء

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: ما خوب ولیدی (د انبیاؤو خوب هم د وحي په حکم کي دی) چي یو سړی ما ته راغلی او را ته ویې ویل: راځه زه ورسره ولاړم، یو سړی ولاړ دی او یو سړی ناست دی د ولاړ سړي په لاس کي د اوسپني یو لور دی، چي هغه یې د ناست سړي په خوله ننه باسي، بیا یې را کاږي تر دې چي تر غاړي ورسیږي بیا یې راوباسي او د خولي وخوا ته یې ور دننه کړي، بیا یې را وکاږي چي په دې سره به دا زامه ټوله څیري کیږي او هغه لومړی زامه خپل اصلي حالت راسي، بیا هغه لور ور واچوي او څیري یې کړي، رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: د خپل ملګري څخه مي پوښتنه وکړه: دا څه پیښه ده؟ هغه را ته وفرمایل: دا سړی درواغ ویوونکی دی، په قبر کي عذاب ورکول کیږي او دغه شان به تر قیامته عذاب ورکول کیږي. بخاري في حدیث طویل عن سمره بن جندب، تخریج الاحیاء

عبدالله بن جراد (رضی الله عنه) فرمایي:ـ ما د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه پوښتنه وکړه: آیا دا امکان لري چي مومن دي زنا وکړي؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: هو! کله داسي کیدلای سي، بیا ما پوښتنه وکړه: آیا مؤمن درواغ ویلای سي؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: نه بیا یې دغه آیت تلاوت کړ: (اِنَّمَا يَفْتَرِى الْكَذِبَ الَّذِيْنَ لَايُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ). ژباړه: بیشکه! همدا خبره ده چي تړي درواغ هغه کسان چي نه راړوي ایمان په آیتونو د الله (چي قرآن دی).

(سورت النحل ـ آیت ۱۰۵)

حضرت عبدالله بن عامر (رضی الله عنه) فرمایي:ـ حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) یوه ورځ زموږ کور ته تشریف راوړ، زه کوچني وم، لوبو ته ولاړم، مور مي را ته وویل: ای عبدالله! موږ تا ته یو شی درکوو، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وویل: ستاسو د څه شي ورکولو اراده وه؟ مور مي وویل: خرما رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: که دي خرما نه وای ورکړې، نو ستا په عمال نامه کي به د درواغو ویلو ګناه لیکل کیدله. ابو داود، تخریج الاحیاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ملا علي قاري (رحمه الله علیه) د غیر الله د قسم اخیستلو د منع دا حکمت بیان کړی دی، چي په یو چا سره قسم اخیستل دا د هغه د عظمت او لویي غوښتنه کوي، حقیقي عظمت او لوئي د الله (جل جلاله) خاصه ده، نو ځکه هیڅ مخلوق و دې مقام ته نه سي رسیدلای. مرقاة المصابح

کفري لفظ:- ځیني خلک بیا وایي: الله (جل جلاله) ورکړي ده رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دي یې ځیني واخلي، دا خبره کول ناروا، حرامه او د کفر کلمه ده، ددې مطلب دا سو چي الله سبحانه وتعالی یو چا ته نعمت ورکړی دی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دي ځیني واخلي یعني د پیغمبرانو (علیهم السلام) طاقت تر الله سبحانه وتعالی زیات دی، دا د کفر عقیده ده.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره د ټولو فضایلو او صیفتونو چي سردار د ټولو انبیاؤو دی، قرآن کریم پر را نازل سوی دی، سید الاولین والاخرین دی، دا ټول کاینات د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د رویه پیدا سوي دي، تر ټولو مخلوقاتو افضل دی، الله (جل جلاله) ته مقرب دی، مګر بیا هم د الله سبحانه وتعالی یو کامل بنده او مخلوق دی، هغه په خپله شپه او ورځ ټول مشکلات او د ستونزو په اړه د الله سبحانه وتعالی څخه د خلاصون لاري غوښتلې، نو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) طاقت تر الله سبحانه وتعالی غټ ګڼل، دا د کفر عقیده ده.

دوهمه خبره دا ده چي یو بنده ته نعمت ورکول یا ځیني اخیستل، مرګ او ژوند، رزق او مسکنت، ښادي او غم دا ټول ورکول یا ځیني اخیستل د الله سبحانه وتعالی په قبضه او قدرت کي دي، د هیڅ مخلوق په دې کي هیڅ ګډون نسته، هر څه چي په دنیا کي پیښیږي د هغه واحد لاشریک د ذات په اراده سره کیږي، رازق، مالک او خالق د ټولو کائناتو یوازي الله سبحانه وتعالی‌دی، د هیڅ نبي یا ولي په دې کي څه اختیار نسته ټول انبیاء، اولیاء او مقرب بنده ګان د الله سبحانه وتعالی عبادت او اطاعت کوي، د الله سبحانه وتعالی د ذات څخه خپل حاجات، ضروریات، مشکلات غوښتني حلول وغواړی، او ټول اُمت ته درس دی چي هیڅ کوم مخلوق د الله سبحانه وتعالی سره شریک نه کړی، نه په صفاتو کي، نه هم په اسماؤو او نومونو کي.

دروغ نه بلکي تعریض جائز دی: کله کله انسان د خپل حق د حصلولو لپاره و دې ته اړ سي چي دروغ ووایي، د دروغ ویلو څخه پرته خپل حق لاس ته نه سي را وړلای، په داسي صورت کي ښکاره دروغ ویل جائز نه دي، بلکي د ضرورت پر مهال تعریض جائز دی، یعني داسي خبره کولای سي، چي په ظاهره کي د حقیقت خلاف وي، مګر ددې څخه مطلب اخیستلای سي.

په ۱۸۵۷م کال کي کله چي مجاهدینو د انګریزانو په مقابل کي ماته وخوړله، نو د مجاهدینو مشر مولانا محمد قاسم ناناتوي (رحمه الله علیه) څخه یو انګریز پوښتنه وکړه: مولانا قاسم چیري دی؟ دی په خپله یو څو ګامه د شاوخوا ته ستون سوو، او ویې ویل: اوس خو دلته وو، انګریز افسر ته یې مغالطه ورکړه چي هغه دلته وو، تا نه ولیدی حال دا چي دی په خپله مولانا محمد قاسم ناناتوي (رحمه الله علیه) وو، دروغ یې هم نه وویل او دښمن یې هم خطاء ایستي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احادیثو په ذکر سوو روایاتو کي څومره سخت عذاب ټاکل سوی دی، د درواغ ویوونکي لپاره او دغه ګناه يئ د اسلام او ایمان خلاف ګڼلي ده، متاسفانه چي ډیر مسلمانان په اخته دي، ددې ناوړي ګناه بدوالی د خلګو په زړو کي دومره ځای نیولی دی، چي درواغ ویل ورته هیڅ ګناه نه معلومیږي او بیا يې په فخر سره بیانوي، او دا هم وایي ما فلانکي کس ته درواغ وویل او هغه مي دوکه کړی، د حدیث څخه دا هم معلومه سوه، چي په خبرو اترو کي د کوچنیانو د ساتیري لپاره که دي د حقیقت خلاف خبره وکړه دا هم ګناه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مسجد شریف بې احترامي کول

د حضرت ابو هریره (رضي الله عنه) څخه روایت دی:- رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: ښه د ښارونو الله (جل جلاله) ته مسجدونه دي او مبغوض د ښارونو الله (جل جلاله) ته بازارونه دي. مسلم

د حضرت عائشه (رضي الله عنها) څخه روایت دی: حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د کورونو سره د مسجد په جوړولو سره آمر کړی دی او دا چي مسجدونه پاک، صفا او خوشبویه به وي. ابو داود، ترمذي

پورتني احادیث د مسجد په عزت، احترام او ددې په عالی مقام یعني صفایي دلالت کوي، مساجد خاص او خاص د الله (جل جلاله) د عبادت، لمونځ، تلاوت او د الله (جل جلاله) د ذکر لپاره جوړ سوي دي، له همدې کبله پر هر مسلمان لازمه ده، چي د مسجد په پاک ساتلو او خوشبویه کول کي خپل تر خپله وسه کار وکړي او ځان ځيني ونه سپموي.

د مسجد صفایي او پاک ساتل یوازي د مسجد د امام او طالب کار نه دی، بلکي پر ټولو مسلمانانو باندي لازمه ده، پر دې سربیره د محل خلګو ته په کار ده چي د مسجد د صفایي او پاک ساتلو لپاره یو خادم ورته وټاکي، هغه ته یو څه میاشتنۍ تنخوا ورکړي، د صفایي کار یوازي په امام او طالب باندي کول د دین بې قدري او د جهالت علامه ده.

په مسجد کي د دنیا په هکله خبري کول: په ډیرو احادیث کي ددې کار څخه منع راغلې ده. په یو حدیث کي راغلي دي: په مسجد کي د دنیا خبري کول، د سړي ښه عملونه داسي خوري لکه اور چي لرګي سوځي. که کومه ضروري خبره ناڅاپه کول غواړي، نو د مسجد څخه باید دباندي ووځي، خپل مشکل دي حل کړي، وروسته دي مسجد ته د لمانځه لپاره داخل سي، په مسجد کي د دنیا خبري کوونکي ته د آخرت سخت عذاب کتوونکی دی، په اوس وخت کي د خلګو دا عادت ګرځېدلی دی، چي د دنیا د کارونو او خبرو لپاره یې مسجد د غونډو تالار ګرځولی وي، در حالي چي مسجد یوازي او یوازي د الله (جل جلاله) د عبادت ځای دی.

په مسجد کي دنیوي عمل کول حرام دی: لکه څنګه چي مسجد یوازي او یوازي د الله (جل جلاله) د عبادت لپاره جوړ سوی دی، له دې کبله شریعت په مسجد کي دنیوي معامله په سختي سره منع کړې ده.

حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: کله چي د یو سړي څخه دا واوری چي هغه په مسجد کي د ورک سوي شي اعلان کوي، نو ورته وواياست چي الله (جل جلاله) دي یې نه در پیدا کوي، ځکه یقیناً مسجدونه ددې لپاره نه دي جوړ سوي. مسلم

د یو بل حدیث شریف ارشاد دي: چي کله یو سړی ومسجد ته راسي او دنیوي خبري وکړي، ملکه ورته وواييي: پټه خوله سه ای د الله (جل جلاله) ولي! که یې نوري خبري وکړې، نو ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي: پټه خوله سه اى د الله (جل جلاله) مبغوضه! كه يې نوري خبري وكړې، نو ورته وايي: پټه خوله سه پر تا دي د الله (جل جلاله) لعنت وي. كتاب المدخل

په فتاوي هنديه كي راغلي دي: د معتكف څخه ماسيوا بل چا ته په مسجد كي خوب او خوراک كول مكروه دي. فتاوي هنديه

په ځينو سيمو كي د ورک سوو كوچنيانو اعلان په مسجد كي كوي، دا يو دنيوي عمل دى، ددې عمل كول په مسجد كي سخت حرام دى، ددې لپاره رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ښيراء كړې ده، چي الله (جل جلاله) دي يې نه در پيدا كوي، دغه ښيراء د دغه د ناروااتوب لپاره كافي ده.

همداسي په ځينو نورو سيمو كي بيا ډير خلګ د تعزيت يا فاتحي لپاره په مسجد كي سره راټوليږي، دننه په مسجد كي دنيوي خبري، غيبتونه، يو پر بل بهتان، فسق او فجور كوي، او دا كارونه عادتاً كوي هيڅ باک هم نه په كوي، ځيني خو لا نسوار هم هلته كوي، چي په دې سره نو د مسجد سخته بې احترامي كيږي، كه چيري د فاتحي لپاره د مسجد څخه دباندي يو ځاى جوړ كړل سي، نو دا به يو ښه كار وي، ځكه چي مسجد يوازي د الله (جل جلاله) عبادت ځاى دى، د ضرورت پر اساس كي په مسجد د فاتحي مراسم تر سره سي، په مسجد كي د دنيا خبري او د بي ځايه مجلسونو څخه ډډه وسي، او د مسجد احترام وسي بيا نو كوم مشكل نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمانځه ته په صحيح ډول توجه نه کول

د حديث شريف ارشاد دی: کوم سړی چي صف بشپړ کړي، الله سبحانه وتعالی هغه د ځان سره يو ځای کوي، او ځوک چي د صف په مينځ کي خاليګاه راولي، يعني په صف کي خالي ځای پريږدي الله سبحانه وتعالی به ور سره اړيکه پرې کړي. قال الحاکم صحيح على شرط مسلم، زواجر

د صف د بشپړ کولو مطلب دا دی، چي په مينځ کي يې خالي ځای پاته نه سي، او قطع کول يعني پرې کول ددې ضد دی، يعني په مينځ کي ځای پريښوول.

د حديث شريف ارشاد دی: خپل صفونه سم او برابر کړی، او که داسي ونه کړی، الله سبحانه وتعالی به ستاسي مخونه وګرځوي. په ځينو رواياتو کي راغلي دي: ستاسي په زړونو کي به اختلاف پيدا سي. بخاري، مسلم، زواجر

په صف کي يو ځای دريدل او صف سمول، د اُمت د علماؤو په اتفاق سره واجب دی، ددې خلاف عمل کول سخته ګناه ده او د ذکر سوو احاديثو د سزاو لايق ګڼل کيږي. عموماً خلګ په منځ کي خالي ځای پريږدي، په مخکي کي ځای وي، خو دی د شاه په صف کي ودريږي او په دريدلو کي هم شاه يا مخ ته ودريږي.

مسئله: د هر لمونځ کوونکي بجلکي د بل لمونځ کوونکي د بجلکو سره به برابري وي، پنډۍ او پنجې که شاه او مخته وي کومه خبره نه ده، مګر بجلکي سره برابرول ضروري دي، په دې کي بې پرواهي کول لويه ګناه ده.

په لمانځه کي راسته او چپه خواو ته د سترګو په کونجو سره کتل:- د حديث شريف ارشاد دی: الله سبحانه وتعالی وه خپل بنده ته چي هغه په لمانځه کي وي برابر متوجه وي، خو کله چي بنده مخ واړوي، نو د الله سبحانه وتعالی هم توجه ځيني واوړي. احمد، ابو داود، نسائي وغيره

د حديث شريف ارشاد دی: ای عزيزه! په لمانځه کي راسته او چپه خواوو ته د کتلو څخه ځان وساته، ځکه په لمانځه کي يوې خوا او بلي خواته کتل هلاکت دی. ترمذي، وحسنه

د امام د مخه سجدي يا رکوع ته تلل:- د حديث شريف ارشاد دی: آيا ستاسي څخه ځوک ددې خبري څخه نه بيريږي، چي هغه په رکوع او سجده کي د امام د مخه سر را پورته کړي، نو الله سبحانه وتعالی به د هغه سر د خره د سر غوندي کړي، يا به د هغه شکل او صورت د خره د شکل په شان کړي. بخاري، مسلم

په اوسني عصر کي ډير خلګ په دې کبيره ګناه اخته دي او هيڅ فکر هم نه کوي، چي ددې عمل عواقيب به څه شي وي او دا کار چي زه يې کوم ښه دی که بد بيخي په بې پرواهي کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اخته وي، او که يو څوک د نصيحت پر ډول ورته ووايي: دا عمل ښه کار نه دی، نو دی په جواب کي ورته ووايي: ته دي خپل لمونځ سم که او ته خو ملا نه يې چي ما ته نصيحت کوې.

د جمعي په ورځ په مسجد کي د خلګو پر اوږو اوښتل:- د حديث شريف ارشاد دی: کوم سړي چي د جمعي په ورځ د خلګو پر اوږو اوړي او مخته ځي ګواکي پر يوه پل باندي دوږخ ته ورسيدی. ترمذي، ابن ماجه، زواجر

رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د جمعي په ورځ خطبه لوستله يو سړی د خلګو پر اوږو اوښتی مخته تلی، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ورته وفرمايل: کښينه تا خلک په تکليف کړل. احمد، ابوداود، نسايي

د يو بل حديث ارشاد دی: زه ګورم ته وخلګو ته تکليف ورکوي، او چا چي يوه مسلمان ته تکليف ورسوی، هغه ګواکي و ما ته يې تکليف ورسوی او چا چي ما ته تکليف ورسوی، هغه الله سبحانه وتعالی ته تکليف ورسوی. الطبراني في الصغيرو الاوسط

په ځينو رواياتو کي راغلي دي: که چا د خلګو پر اوږو ګامونه واړول د هغه د جمعي لمونځ د ماپښين لمونځ سو، يعني د جمعي د لمانځه فضليت او ثواب يې باطل سو.

فکر وکړی! چي په دې عمل کولو باندي په حديث کي څونده سخت عذاب راغلی دی، مګر ډير مسلمانان په دې ګناه اخته دي او هيڅ توجه نه کوي، ددې عمل په هکله که چيري د مخ په صفونو کي ځای نه وي، نو شاته يا هم د بوټونو په ځای کي دريدل هم ځان ته درجې لري.

په لمانځه کي په کالو بازی کول: د کالو د استعمال چي کومه طريقه عامه ده، ددې څخه خلاف استعمالول، مثلاً: قميص پر سر باندي اچول، يا پټو او دسمال په سر باندي اچول، يا دواړه طرفه ايله پرېښوول، چي دې ته بيا په فقهي اصطلاح کي سدل وايي. دا عمل کول په لمانځه کي ناروا او ګناه ده، همداسي که يېږد کالو کومه برخه په وار وار اړول يا د بدن يوې برخي ته بي ضرورته په وار وار سره حرکت ورکول، په پزه يا غوږ کي بي ضرورته ګوته وهل او دا سي نور دا عمال عبث عمال دی، په لمانځه کي ناروا او ګناه ده.

سدل مکروه دی:- علامه ابن عابدين شامي (رحمه الله عليه)د کراهيت په باب کي فرمايلي دي: ددې د کراهيت درې (۳) وجهي دي:- ۱: د اهل کتابو سره مشابهت. ۲: د عورت د لوڅوالي خطر او دا په هغه صورت کي چي کالي په سر باندي وزړول سي او پټو يا پرتوګ يې نه وي. ۳: غيري عادي اغوستل کوم چي په عادت کي دغه ډول نه اغوستل کيږي. مثلاً: پټو يې پر ځان نه وي پيچلی، بلکي پر اوږه يې زړولی وي، يا يې چپنه اغوستې وي، خو لستوني يې ايله پرې ايښي وي په لاس يې نه وي اغوستي. په لمانځه کي داسي عمل کول مکروه دی، د لمانځه څخه بهر کوم باک نه لري. په حواله د احسن الفتاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته د کوم ضرورته يو وار لاس پورته کول بدن ګرول هم مکروه تحريمي دى، که کوم داسي ضرورت وي چي پرته د بدن د ګرولو څخه په لمانځه کي اطمينان نه سي راتلاى، نو يو وار يا دوه واره بيله کراهيته جائز دي، د درېِ (۳) واره (سبحان ربي الاعلى) ويلو د وخت په اندازه درېِ (۳) واره د ضرورت له کبله ځان ګرول هم مفسد دي او دا بيا هلته چي په هر صورت کي لاس پورته کړي، که يو ځل لاس پورته کړي او که دري (۳) واره ځان وګروي دا لمونځ نه فاسدوي، عموماً خلګ پرته د کوم ضرورته په لمانځه کي لاسونه پورته کوي، خپل لمونځونه فاسد او برباد کړي، ډير احتياط په کار دى. رد المختار، احسن الفتاوى

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په تول او ترازو کي کمي کول

الله الله سبحانه وتعال په قرآن کريم فرمايي: (وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ). ژباړه: هلاکت دی د کم ورکوونکي (پيماني لره). (سورت المطففين ـ آيت ۱)

دا آيت ددې ګناه سختي او عذاب بيانوي، په تول او ترازو کي کمي کول سخته کبيره ګناه ده.

حضرت عبدالله بن عمر (رضی الله عنهم) فرمايي: يو ورځ رسول الله (صلی الله عليه وسلم) موږ ته تشريف راوړ او ويې فرمايل: پنځه (۵) خصلتونه داسي دي، کله چي تاسي په هغو کي بوخت سی، نو د هغو ناوړي نتيجي به په لاندي صورتونو کي ومومی، او زه د الله عزوجل څخه پناه غواړم چي تاسي په کښي بوخت سي:- ۱: کله چي په يو قوم کي فحاشي او بي حيايي خپره سي، نو ددې امله پر هغوی باندي لعنت او غضب کيږي، چي په نتيجه کي به هغوی کي طاعون او داسي ناروغۍ خپرې سي، چي د هغوی مشرانو به نه اوريدلي وي او نه به يې هم ليدلي وي. ۲: کله چي يو قوم په تول او ترازو کي کمي وکړي، نو پر هغوی باندي د وچکالي او ګراني عذاب راځي، که باران وي او که نه وي همدا ډول د خلکو غوښتني، پور او داسي نور ډيريږي واکدارن به يې ظلمورباندي کوي. ۳: کله چي يو قوم په زکات ورکولو کي کوتاهي کوي، نو بارانونه پر وخت نه کيږي، که ځاروي نه وای، نو هيڅکله به بارانونه ورباندي نه وای سوي. ۴: کله چي يو قوم د الله (جل جلاله) او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وعدې ماتوي، نو الله (جل جلاله) به د نورو قومونو څخه دښمنان ورباندي مسلطه کوي، چي د هغوی مالونه به په ناجائزه طريقه سره واخلي. ۵: کله چي مسلمان حاکمان او واکداران، قرآني حکمونه او قوانين نه نافذ وي، نو د مسلمانانو په خپل مينځ کي اختلاف او جنګ پيليږي. ابن ماجه، البزار، البيهقي، الحاکم، مسلم زواجر

حضرت عبدالله (رضی الله عنه) چي به کله بازار ته تشريف يوړی، نو دوکاندارنو ته به ودريدی او ويل به يې چي په تول ترازو کي د الله (جل جلاله) څخه وبيريږی، ځکه چي د قيامت په ورځ (مطففين) يعني په تول او ترازو کي کمي کوونکی داسي درول کيږي، چي د سختي د امله د خلګو خولي به د درياب په شان به بهيږي او دا به د غوږنو تر نيمايي برخي پوري به ورسيږي.

يادونه: که د حديث شريف الفاظو ته په غور او ځير سره وګوری، نو د رسل الله (صلی الله عليه وسلم) د پيشبيني او رښتياوالی به په سترګو ووينی.

يو د سلفو مخکني علماؤو څخه بيان کړي يې دي: زه د يو ناروغ پوښتني ته ورغلم، هغه ته مي د شهادت د کلمي تلقين وکړ، هغه څه ويل غوښتل خو ژبي يې حرکت نه کوی، څه وخت ورسته په هوښ کي راغلی، نو مي ځيني وپوښتل: کله چي ما د کلمي تلقين درته کوی، تا ولي نه ويله؟ هغه را ته وويل: وروه! د ترازو د لاس ستن زما پر ژبه پرته وه، د هغه له کبله ما کلمه نه سوای ويلای، ما ورته وويل: يا الله خير! آيا تا په ترازو کي کمي کول؟ هغه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم په الله! هیڅکله نه. هو! دا ډیره پښیدله چي ما تر ډیره وخته پوري خپل ترازو نه برابروی، په دې کي به څه توپیر کیدی.

په اوسني عصر کي په مسلمانانو کي دا پنځه (۵) رقمه خصلتونه عام او خپاره سوي دي، نو ددې ناوړه کار کومي نتیجي چي په حدیث کي ذکري سوي دي، هغه هم خپري سوي دي او دا هغه غمونه دي چي پر مسلمانانو باندي یې مځکه تنګه کړې ده، مګر د افسوس ځای دی چي د حدیث شریف په داسي روښانه ارشاداتو باندي ولي زموږ سترګي نه خلاصیږي؟ او دا اوسني غمونو د لیري کولو لپاره د زماني عقلان ډول ډول تدبیرونه نیسي، مګر ددې اصلي اسباب او علتونه په حدیث کي بیان سوي دي، د هغه ختمیدو ته هیڅ څوک پاملرنه نه کوي. د هغو خصلتونو څخه یو هم د همدي موضوع عنوان دی یعني په تول ترازو کي کمي کول په دې کي دا نه دي بیان سوي، چي کوم خاص اندازه دي د ځان لپاره راوګرځول سي، بلکي مقصد لږ توپیر لکه: یو ګرام، لس ګرامه، یا د ګز شپاړسمه (۱۶) برخه وي ددې حکم همدغه دی.

له دې وجهي څخه په قرآن کریم کي دغه شان عمل کوونکو ته (مطففین) ویل سوي او شمیرل سوي دي، (طفف) یعني د لږ شي لپاره خیانت کوونکی، کوم تاجر چي په تول کي توله ورځ کمي کوي، کیدای سي په توله ورځ کي نیم سر، پاؤ، نیم ګز، یا څه کم راوګرځوي، دا په هره سودا کي په یوه لویه سخته کبیره ګناه باندي بدلیږي او دغه کس په اخته کیږي.

د مځکنیو علماء کرامو د داسي کسانو په شان کي ارشاد دی: د بربادي سره بربادي ده، د هغو خلګو لپاره چي د یوې داني په بدل کي د جنت نعمتونه قربان کړي او ځان د دوزخ د هغه درد ناکه عذاب لایق وګرځوي، کوم چي په هغه کي غرونه ویلي کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تصویر جوړول حرام دی

حنفي فقهاؤو او علماؤو فرمایلي دي: د روح لرونکي تصویر جوړول سخت حرام دی، او د کبائرو ګناهونو څخه دی، که څه د ذلت او اهانت لپاره جوړ سوی وي، یا د یو بل هدف لپاره وي، په هر حال حرام دی، ځکه چي په دې کي د الله سبحانه وتعالی د صفت تخلیق مقابله ده، که څه هم هغه تصویر پر ټوکر، فرش، دینار، درهم، پیسو، دیوال یا لوښي باندي وي، هو! پر کوم شي چي تصویر نه وي، لکه: درخته او داسي نور... څه چي تصور نه وي نو داسي څه حرام نه دي.

د حرمت په دې حکم کي صورت والا او بې صورته فقط نقش تصویرونه برابر دي، دا خبره امام مالک، ثوري، امام ابوحنیفه (رحمة الله علیهم) او د علماؤو جماعت بیان کړې ده.

علامه مرادوي حنبلي (رحمه الله علیه) فرمایي: د روح لرونکي شي تصویر جوړول حرام دی، د درختي او نورو شیانو تصویر جوړول کوم چي د روح لرونکي شي مشابه نه وي د صحیح مذهب مطابق حرام نه دی. الانصاف

د احکامو خلاصه: د قرآن کریم، احادیثو او د فقهي د کتابونو څخه لاندي احکام ثابیتیږي، د روح لرونکي شي تصویر جوړول سخت حرام او ګناه یې کبیره ده. تصویر که هر ډول وي، که غټ وي که کوچنی وي، پر ټوکر او که پر کاغذ جوړ سي او که پر دیوال باندي وي، که په قلم جوړ سوی وي او یا هم په کامره باندي اخیستل سوی وي. همداسي تصویر په مطبعه کي چاپول، په ماشین یا قالب کي اچول هم ناروا دي، د تصویر خرڅول او رانیول حرام دي، په دې سره کټل سوې پیسه حرامه او د ګټي وړ نه ده.

په هغه وخت کي چي د تصویر خرڅول او رانیول دي مقصد نه وي او ستا مقصد نور څه رانیول وي، لکه: کالي، کتابونه یا ځیني نور شیان او پر هغه باندي تصویر وي، ددې شي تجارت جائز دی، مګر پر خریدار لازمه ده چي د شي د رانیولو سره تصویر ضایع کړي.

تصویر ته قصداً کتل نورو ته ورښکاره کول او د ځان سره ساتل یا هم ایښوول جائز نه دی، د ټلیفون، ټلویزون او داسي نورو... شیانو ته ورته فحش او بې حیاء تصویرونو ته کتل، یو او بل ته ښکاره کول حرام او کبیره ګناه ده. دا حکم د اخبارونو، رسالو، مکاتیبو او پوهنتونو د کتابونو د تصویرونو لپاره هم دی، د جائز مضمونونو لوستل جائز مګر تصویرونو ته یې کتل ناجائز دي. احسن الفتاوی

ځینو کسانو د بزرګانو، عالمانو، مجاهدینو، قهرمانانو او دوستانو تصویرونه په کور، دفتر، دوکان، او یا هم نورو ځایو کي ځړولي وي، یا یې په البم کي ایښي وي، دا عمل د اسلامي شریعت د نظره حرام او ناروا دی، همداسي تصویرونه متبرک ګڼل د کفر خطر ور سره سته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر مسلمان ته په کار ده چي ددې حرام عمل څخه ځان او نور مسلمانان وساتي، او ټول تصویرونه وسوځي، که دا ښه او رواه عمل وای، نو معززو اصحابانو به نعوذ بالله د سید الانبیاء حضرت محمد (صلی الله علیم وسلم) تصویر به جوړ کړي وای، د ځان سره به یې ساتلی وای، مګر خپله رسول الله (صلی الله علیم وسلم) د تصویر جوړولو څخه منع کړې ده، ځکه چي دا د الله (جل جلاله) د تخلیق سره مشابهت او شرک دی، ځکه نو شرعاً دا عمل حرام دی.

مسئله: تصویر که په قلم سره لیکل سوی وي، یا په مطبعه کي چاپ سوی وي، یا په کامره سره اخیستل سوی وي، د ټولو حکم یو دی یعني حرام دی.

د تصویرونو مخه نیول یا د منځ وړل: د احسن الفتاوی فقه العصر علامه مفتي رشید احمد الدهیانوي (رحمة الله علیه) فرمایي: په دې کي دا قبائح دي:

۱: په دې عمل سره د تصاویرو صنعت ته ترقي ورکول کیږي، کوم چي په اجماع سره حرام دی.

۲: پر فرش یا نورو ذلیلو شیانو کي د تصویرونو په استعمال سره د عامو خلګو د ګمراهي او د کبائرو ګناهونو د کولو ذریعه ده، ځکه چي عوام ددې څخه مطلقاً پر اباحت باندي استدلال کوي، عوام په مهانه یعني کوم چي د ذلت په ځای کي استعمالیږي او غیر مهانه یعني کوم چي د ذلت په ځای کي نه استعمالیږي، کوم فرق نه سي کولای.

۳: که پر فرش باندي تصویر وي، هلته هم ملائیکي نه راځي، په دې صورت کي که څه هم د ملائیکو امتناع مختلف فیه دي، مګر د ذکر سوو وجوهاتو له مخي امتناع راجع معلومیږي.

د امتناع تر دې هم غټ دلیل دا دی، چي د یو معکون عمل د معمول بقاء یعني پاته کول بلکي افتتناء یعني حفاظت دی، خلګ یې د اهانت په نیت نه ږدي، بلکي د شوق لپاره یې ږدي، د مذکوره قبائحو په صورت کي هم د لمانځه کراهت او رګراځول واجب تقاضا کوي.

مسئله: د روح لرونکي شي تصویر اخیستل یا په بل چا اخیستل د تصویر دواړه عملونه ناروا او حرام دي، هو! که یو داسي هیواد ته د تللو اړتیا وي، چیري چي د ورتګ لپاره د تصویر اخیستلو سره پاسپورټ لاسته راوړل ضروري وي، نو د ضرورت په اساس سره جائز دی، مګر د سیاحت یا تفریح لپاره جائز نه دی.

یادونه: ددې مسئلې په اړه مکمل بحث چي په کښي د قرآن کریم، حدیث د عقلي او نقلي شبهاتو د جوابونو سره اړونده فقهي مسئلې په تفصیل سره د احقر په رساله کي التصویر الاحکام التصویر کي بیان سوي دي کتلای سی.

په اوسني عصر کي چي بیلا بیلو هیوادنو ته د تګ لپاره پر پاسپورټ باندي تصویر لګول ضروري ګڼل سوي دي، همداسي د یو هیواد په دننه کي د تذکرې یا نورو کارډونو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصویر پر لګول ضروري دي، دغه ګناه د حکومتونو په غاړه باندي ده، لکه څرنګه چي مسلمانان یې دې ته مجبوره کړي دي، احتیاطاً استغفار ویل په کار دي چي وویل سي.

د حدیث شریف ارشاد دی: د رحمت ملائیکي وهغه کور ته نه ننوځي، په کوم کور کي چي د روح لرونکي شي تصویر یا سپی وي. الصاح الستة

په اوسني عصر کي دغه ګناه دومره ډېره سوې ده، چي د نړۍ هیڅ ساحه یا ځای به ځیني پاته نه وي، ددې ګناه څخه پرهیز کوونکی یعني ځان ساتوونکي ته د ژوند په هره برخه کي ستونزي دي، د سر د رخچیني څخه نیولې بیا د پښو تر بوټونو پوري، کوم شیان چي په بازار کي دي د تصویر څخه خالي پیدا کیدل یې ستونزمن سوي دي.

د استعمال کورني شیان: لکه لوښي، د کالو ګنډلو ماشین، د دواوو دبلیان، بوتلان او داسي نور.. یا هم اخبارونه او رسالې تر دې پوري چي مذهبي او اصلاحي کتابونه هم ددې لویي ګناه څخه خالي پاته نه دي او نه سوه. د تجاراتو، دوکاندارنو او د هر خرڅونکي څخه دا غوښتنه کوو، چي ددې شیانو د خرڅولو څخه ځان وساتي او په خاص ډول رانیونکي دي هم ځان ځیني وساتي.

سوداګر کولای سي تصویر ختم کړي، د هیواد سوداګر په دې کي ډېر مهم رول لوبولای سي، هر سوداګر چي بهرني تجارتي مالونه هیواد ته راوارده وي، نو د کمپنۍ او کارخاني د مالک سره د روح لرونکي شي د تصویر ختمولو خبره دي ورسره وکړي، هغه دا خبره ورسره مني یا هم خوښوي، ځکه چي د هغه مقصد خپل مالونه خرڅول په زیاته اندازه سره دي، فقط ټینګ عزم، صفا نیت او دیني غیرت ته اړتیا ده، دا د مسلمان صفات دي، متاسفانه ځیني تجاران او د کارخانو مشران ښه پر دین برابر خلک یې، مګر بیا هم ددې عمل څخه ځان نه ساتي او نور خلک هم په دې ګناه کي د ځان سره اخته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د الله (جل جلاله) د نامه څخه ماسیوا په بل څه قسم اخیستل

کوم څوک چي د غیر الله سوګند یعني قسم واخلي هغه د کفر او شرک عمل وکړ. ترمذي شریف

الله (جل جلا له) ددې څخه منع کوي چي تاسي د خپل پلار یا زوی قسم واخلی. رواه السنة، جمع الفوايد

کوم چا چي سوګند واخیستی که فلانی خبره داسي نه وي، نو زه د اسلام څخه وتلی یم، که هغه درواغ ویلي وي، نو دغه سي ده، څرنګه چي هغه ویلي دي، یعني د اسلام څخه وتلی دی او که ربښتني وي، بیا هم د اسلام وه لوري ته سم سالم نه راګرځي. نسائي، ابو داود

د حدیث د ظاهري الفاظو څخه داسي معلومیږي چي د دغو ګناهونو کوونکی کافر کیږي، خو علماؤو د نورو روایتونو په رڼا کي ددې څخه دغه مطلب اخیستی دی، چي دا سړی وکفر ته نږدي کیږي، مګر د کفر فتوای نه باندي کیږي او د کفارو غوندي چلند به نه ورسره کیږي.

د حضرت عبدالله بن عمر (رضی الله عنهم) څخه روایت دی:ـ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: قریشو به په خپلو پلرونو سره قسم اخیستل، نو تاسي په خپلو پلرونو سره قسم مه اخلی.

د فقه د معروف کتاب الدرالمختار او د فتوای معتمد فتاوای شامية د پورتنیو عبارتونو خلاصه دا ده: قسم فقط د الله سبحانه وتعالی په نومونو او د هغه په صفاتو سره منعقد کیږي، د الله سبحانه وتعالی څخه ماسیوا په نبي او کعبه سره قسم نه منعقد کیږي، بلکي داسي څه ویل یا کول حرام او ګناه ده، قرآن کریم څرنګه چي د الله سبحانه وتعالی کلام دی او قسم په دې سره مشهور او متعارف دی، نو ځکه منعقد کیږي.

قسم نه اخیستل ښه کار دی: مسلمانانو ته د مقدس شریعت دا ښوونه ده، چي پر هره خبره باندي قسم وانه خلی، په کومه خبره کي چي تاکید مقصود وي، هغه باید په بل تعبیر سره ادا کړل سي، سوګند وانه خیستل سي او که د کوم چا عادت وي هغه دي دا عادت پریږدي.

لکه علامه ابن عابدین شامي (رحمة الله علیه) چي فرمایي: په الله سبحانه تعالی سره قسم اخیستل مکروه نه دي، مګر لږول یې تر ډیرو غوره دي. الدرالمختار

که د یوې مجبوري د وجهي د قسم اخیستلو ضرورت پیښ سي، نو به فقط او فقط په الله (جل جلاله) سره قسم یادوي، د الله سبحانه وتعالی د نامه څخه ماسیوا په بل چا سره به قسم نه یادوي.

د عبدالله ابن عمر (رضی الله عنهم) څخه روایت دی:- رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: خبردار که څوک قسم اخلي، نو هغه دي په الله سره قسم واخلي. بخاري شریف

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بي ګټي خبري او عمل كول

انسان چي څومره خبري يا عمل كوي ظاهراً پر درې (٣) ډوله وي:- ١: ګټور عمل يا خبري كول چي د دين او دنيا كومه ګټه په كښي كي وي. ٢: تاواني عمل يا خبري كول چي د دين او دنيا كوم تاوان په كښي كي وي. ٣: نه ګټور نه تاواني عمل يا خبري كول چي نه ګټه په كښي كي وي او نه تاوان په كښي كي وي.

دا دريم (٣) ډول يې په حديث كي د (لا) يعني بې كاره په لفظ سره تعبير سوى دى، مګر كه لږ په ځير سره ورته وكتل سي، نو واضح به سي چي دا دريم (٣) ډول په حقيقت كي په تاوان كي داخل دى، ځكه چي د داسي عمل يا خبري كولو پر ځاى چي صرف يو وار (سبحان الله) وويل سي، نو د قيامت په ورځ به د اعمالو تله يعني ترازو خو به په دروند سي، نيک اعمال به يې وزن پيدا كړي يا يو بل ګټور عمل بايد وكړي، نو د ګناهونو كفاره او د آخرت د خلاصون ذريعه يا لږ تر لږه د دنيا د اړتياوو څخه د بي فكري سبب خو به يې سي.

د حديث شريف ارشاد دى: كوم كس چي په يو مجلس كي كښيني او په ټول مجلس كي د الله سبحانه وتعالى كوم ذكر ونه كړي، د قيامت په ورځ به دغه مجلس دده لپاره حسرت او پښيماني وي.

د حديث شريف ارشاد دى:- حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) فرمايي: د انسان د صحيح اسلام يوه نښه دا ده چي بي ګټي كارونه پريږدي. رواه الترمذي وابن ماجه عن ابي هريرة

د حديث شريف مفهوم دى: يو ځل كعب بن عجره (رضى الله عنه) څو ورځي د حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) خدمت ته حاضر سوى نه وو، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د خلكو څخه د كعب بن عجره (رضى الله عنه) په اړه پوښتنه وكړه؟ په جواب كي ورته وويل سول: كعب بن عجره (رضى الله عنه) ناروغه دى، حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) د هغه د پوښتني لپاره ورغلى حالت يې نازک وبريښيدى، نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: اى كعبه! ستا لپاره دي زيرى وي، د كعب مور وويل: اى كعبه! تا ته دي جنت مبارک وي، دا خبره حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) واوريدله، نو يې وفرمايل: د الله (جل جلاله) په معامله كي سوګند اخيستوونكى، مداخله كوونكى څوک دى؟ كعب بن عجره (رضى الله عنه) ورته وويل: زما مور ده.

محمد (صلى الله عليه وسلم) ورته وويل: ته څه خبره يې چي كعب بن عجره (رضى الله عنهم) كله (لا) خبري كړي وي، يا تر ضرورت زيات مال يې د الله سبحانه وتعالى په لار كي په خرڅولو كي كوتاهي كړې وي، نو په داسي حالت كي ويو چا ته څه حق دى چي د جنت حكم ولګوي.

ښكاره مطلب يې دا دى: د (لا) يعني بې كاره خبري او عمل حساب به وي او كوم شى چي حساب او نيونه يې وي، د هغه څخه خلاصون يقيني نه وي. احياء

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لونګ يا پرتوګ تر بجلکو کښته کول

د حديث شريف ارشاد دی: د قيامت په ورځ به الله سبحانه وتعالی هغه سړي ته د رحمت په نظر سره ونه ګوري چي خپلي جامي يې په تکبر او فخر سره اوږدې کړي وي. بخاري، مسلم

د حديث شريف ارشاد دی:ـ حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: کومه برخه د پرتاګه چي تر بجلکو لاندي کښته سوه هغه په دوږخ کي ده. بخاري شريف

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ارشاد دی: درې (۳) کسان دي چي الله سبحانه وتعالی به ورسره خبري نه کوي او ورته ګوري به هم نه او نه به هغوی پاک وي او د دوی لپاره درد ناکه عذاب دي، د حديث شريف روايت کوونکی وايي: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دغه کليمي درې (۳) ځله تکرار کړي، حضرت ابوذر غفاري (رضي الله عنه) پوښتنه وکړه: دا خلګ خو ډېر په تاوان کي دي او هلاک سول دغه څوک دي؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمايل: کوم سړی چي تر بجلکو کښته پرتوګ يا لونګ وزړه وي او کوم سړی چي د يو چا سره نيکي او ښه وکړي او بيا احسان ورباندي کوي او کوم څوک چي د درواغو په قسم سره خپل سامان خرڅ کړي.

ابو داود، نسائي، ترمذي، ابن ماجه

حضرت عبدالله بن عمر (رضي الله عنهم) فرمايي: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چي د لونګ او پرتاګه په باب څه وفرمايل هغه حکم د قميص او چپني هم دی، چي تر بجلکو کښته کول يې ګناه لري.

ابو داود، زواجر

حضرت عبدالله بن عمر (رضي الله عنهم) فرمايي: د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) خدمت ته حاضر سوم زما لونګ تر بجلکو کښته زړېدی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمايل: دا څوک دی؟ ما وويل: عبدالله بن عمر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ارشاد يې وکړ: که ته عبدالله يې نو لونګ تر بجلکو لوړ کړه، ما لونګ لوړ کړی تر دې چي د پنډۍ تر نيمايي پوري ورسيدی، بيا مي د تل لپاره دغه عمل خپل عادت وګرځوی. احمد بسند رواه ثقات

مسئله: کوم سړی چي په تکبر او فخر سره خپل لونګ، پرتوګ او داسي نور شيان چي تر بجلکو يې کښته کوي، هغه په اتفاق د علماؤو د سختي کبيره ګناه کوونکی دی، که يې په بې فکري سره دغه عادت ګرځيدلی وي، د تکبر او فخر د کبله نه وي هم ګناه لري.

فتاواى علمګيري اشباه وغيره

هو! که د چا جامي يو وخت پرته د اختياره کښته سي، هغه په دې حکم کي داخل نه دی، لکه حضرت ابو بکرصديق (رضی الله عنه)ته ورپيښه سوه، او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته يې د هغه بيان وکړی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دی معذور وګڼی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید الاولین والاخرین حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) خپل اُمت ته پر دې باندې کلک ټینګار کوي، مګر بې فکره او غافل اُمت دی چې خپلې بې ګټې او فضول غوښتنې د الله سبحانه وتعالی او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د رضا کولو لپاره نه پرېږدي او د داسې ګناه په خپل سر د اخیستلو لپاره اماده دي، چې خاص د رحمت او بخښنې په وختونو کې هم نه معافیږي یعنې نه بخښل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ناوړه القابو سره د يو چا يادونه كول

په قرآن كريم الله سبحانه وتعالى فرمايي: (وَلَا تَلْمِزُوْا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ). ژباړه: او عيب مه لكوئ پر يو بل باندي او مه بلئ يو بل په لقبونو سره. (سورت الحجرات ـ آيت ١١)

حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي: د مؤمن حق پر مؤمن دا دی چي هغه په داسي نوم او لقب ذكر كړي، چي د هغه ډير خوښ وي ددې كبله په عربو كي د كنيت رواج عام وو.

سنت طريقه دا ده: د خلګو يادونه بايد په ښو القابو سره وسي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) همدا خوښ كړي دي، خپله رسول (صلی الله علیه وسلم) ځينو خاصو خاصو اصحابانو ته ځه القاب وركړي دي، لكه: حضرت صديق اكبر (رضی الله عنه) ته يې عتيق لقب وركړی دی، حضرت عمر بن خطاب (رضی الله عنه) ته يې فاروق لقب وركړی دی، حضرت حمزه (رضی الله عنه) ته يې اسدالله او خالد بن وليد (رضی الله عنه) ته يې سيف الله لقبونه وركړي دي.

حضرت امام نووي (رحمة الله علیه) په كتاب الاذكار كي ويلي دي: د اُمت علماء كرام پر دې اتفاق دي چي يو څوک په داسي لقب سره يادول كوم چي هغه يې نه خوښوي حرام دئ.

د ځينو القابو استسناء: د بعضي خلګو داسي نومونه مشهوره سوي وي كوم چي په خپل ځان كي بد دي، مګر هغوی پرته ددې الفاظو څخه نه پيژندل كيږي، نو هغوی په دغه نامه سره يادول د علماؤو په اتفاق سره جائز دي، په دې شرط چي د ذكر كوونكي مقصد د هغه تحقير او ذليله كيدل نه وي، د بعضي محديثينو سره اعرج يا احدب مشهوره دی.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپله يو صحابي ته چي لاسونه يې تر نورو اوږده وه د «ذواليدين» په نامه سره تعبير كړی دی.

د حضرت عبدالله بن مبارک (رحمه الله علیه) څخه يو چا پوښتنه وكړه: د حديث په اسانيدو كي د ځينو نومونو سره ځه داسي القاب راغلي دي، مثلاً: حميد الطويل، سليمان الاعمش، مروان الاصغر او داسې نور... نو آيا په دغو الفاظو سره ذكر كول جائز دي؟ ده وفرمايل: كله چي ستاسي مطلب د هغه عيب بيانول نه وي، بلكي د هغه معرفت او پيژندل پوره كول وي نو جائز دي.

ناوړه او ناخوښه القاب كوم چي په خلګو كي شهرت لري د هغه تشريح كول او يو څوک په هغه القابو سره بلل، يا يې تر شاه په ناوړه القابو سره يادول كبيره ګناه ده، لكه: كوڼ، پک، ړوند او داسي نور... هو! كه د يو چا لقب و دې درجې ته رسيدلی وي، چي د هغه څخه ماسيوا نه پيژندل كيږي، د ضرورت له كبله د هغه يادونه كول د اړتيا په وخت كي جائز دي، په عامو حالاتو كي چي اړتيا نه وي په هغه الفاظو سره بيان كول يا خطاب كول كبيره ګناه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مسلمان عیب لټول یا یې رسواء کول

د قرآن کریم ارشاد دی: ( وَّلَاتَجَسَّسُوْا ). ژباړه: او جاسوسي مه کوی تاسي. (سورت الحجرات ـ آیت ۱۲)

حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) پر منبر باندي په خطبه کي وفرمایل: کوم خلک چي په ژبه مسلمانان سول، خو زړونو ته یې ایمان نه دی رسیدلی، هغه دي واوري چي مسلمانانو ته تکلیف مه رسوئ د هغوی د پټو عیبونو پلټنه مه کوئ پر تیرو سوو ګناهونو باندي یې پیغور مه ورکوئ ولي کوم څوک چي د یو مسلمان ورور عیبونه لټوي، الله سبحانه وتعالی د هغه د عیبونو پلټنه کوي او د کوم چا عیبونه چي الله سبحانه وتعالی وپلټي، ژر ده چي رسوا به یې کړي که څه هم په خپل بند کور کي پټ وي. ترمذي، د جمع الفوائد څخه

حضرت عبدالله بن عمر (رضي الله عنهم) یو ځل بیت الله ته وکتل او ویې ویل: ای بیتي! ستا شان ځومره غټ دی، خو د مؤمن عزت او حرمت د الله (جل جلاله) په دربار کي تر تا ډیر لوی دی.

ترمذي، جمع الفوائد

د حدیث شریف ارشاد دی: مسلمان د مسلمان ورور دی، نه به ظلم پر کوي او نه به یې عیب بیانوي یا ښکاره کوي څوک چي د خپل ورور په کار کي بوخت سي، الله سبحانه وتعالی د هغه په کار کي بوخت کیږي او څوک چي یو مسلمان د یو غم او تکلیف څخه خلاص کړي، الله سبحانه وتعالی به د قیامت په ورځ به د هغه عیبونه پټ کړي. ترمذي

عام او خاص ټول په کښي اخته دي، د خلکو د پټو عیبونو پلټنه کوي او کومه خبره چي په لاس ورسي هغه خپروي او رسوا کوي یې دا د خلکو عادت ګرځیدلی دی، هیڅ فکر نه کوي چي ده کومه ګناه کړې ده، دا هم کبیره ګناه ده، هیڅ دنیوي او آخروي ګټه نه لري، مګر د بد اخلاقي له کبله خلک خوند ځیني اخلي.

## چغلي یا دوه مخي کول

د حدیث شریف ارشاد دی: چغلي کوونکی به جنت ته نه ځي یعني داخل به نه سي. بخاري، مسلم

د حدیث شریف مفهوم دی: درواغ ویل خوله توروي او چغلي کول د قبر عذاب دی.

طبراني في الکبیر، بیهقي

حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دی: زه یې تاسي ته دربښیم چي په تاسي کي ناوړه او بد انسان څوک دی، ویې فرمایل: هغه کسان چي چغلي وموندي، دلته او هلته ځغلي کوم چي په دوستانو کي فساد خپور کړي او کوم چي د ښو خلکو او بې قصورو انسانانو عیبونه لټوي.

احمد عن ابي مالک الاشعري، تخرج الاحیاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



په احياء العلوم کي راغلي دي: کوم سړی چي د چغلۍ خبره درته ورسوي، نو پرتا لازمه ده چي دغه شپږ (۶) خبري په نظر کي ونيسي، ۱:ـ اول: د هغه تصديق مه کوه، ځکه چي هغه چغل خور دی، د ده شاهدي نه قبليږي، ۲:ـ دوهم: دغه کس د دغه کار څخه منع کړه، نصيحت ورته وکړه. ۳:ـ دريم: د ده دغه عمل ناوړه وګڼه. ۴:- څلورم: په خپل غائب ورور باندي بدګماني مه کوه. ۵:ـ پنځم: د هغه په ويلو سره پلټنه مه کوه، چي دغه پلټنه په خپله ګناه ده. ۶:ـ شپږم: د چغل خور دغه خبره هيچا ته مه کوه، ځکه چي ته خپله په چغلي کولو کي بوخت سوې.

د يو چا عيب يا داسي خبره او کار چي هغه يې پټوي، نورو ته ښکاره کول چغلي يا دوه مخي ده، چغلي کول کبيره ګناه ده، بيا که هغه عيب حقيقت او خبره صحت ولري، نو فقط د چغلي کولو ګناه ده او که د حقيقت خلاف وي، يا د ځانه څخه په کښي کمي او زياتوب وکړي دا بيا بهتان دی، کبيره ګناه هم او د چا د طرفه چي چغلي سوې ده، که د هغه عيب ښکاره کول يې مطلب وي، نو غيبت هم دی چي دريمه کبيره کناه ده، په يوه خبره يې دري (۳) کبيره ګناوي وکړې، زموږ د محفلونو مجلسونو مشغلتيا ټوله په چغلي، غيبت، عيب لټونه او بهتان باندي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نسب د امله يو چا ته پيغور ورکول

الله (جل جلاله) فرمايي: (وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا).

ژباړه: او هغه کسان چي ايذاء رسوي مؤمنانو سړيو ته او مؤمنانو ښځو ته، بغير د هغه کار چي کړی يې وي دوی، پس په تحقيق باروي دوی پخپل ځان غټ درواغ او ګناه ښکاره.

(سورت الحزاب ـ آيت ۵۸)

د پورتني آيت تفسير: او هغه کسان چي ايذاء رسوي مؤمنانو سړيو ته او مؤمنانو ښځو ته (اتهام) په غير د هغه کار چي کړی يئ وي دوی پس په تحقيق باروي دوی پخپل ځان غټ درواغ او ګناه ښکاره (چي د عقوبت موجب دی).

حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي: دا نسبونه، خپلوی، قرابتونه کوم چي په دنيا کي مشهور دي د يو چا لپاره ښکنځل نه سي کيدلای، تاسي ټول د آدم (عليه السلام) اولاده او يو له بله سره نژدي ياست د يو چا پر بل چا کوم فضليت نسته، هو! فضليت د دين او صالحو اعمالو پر بنسټ باندي دی. رواه احمد والبيهقي

د حديث شريف ارشاد دی: دوه (۲) شيان داسي دي چي اراده کول يې هم کفر ته نژديوالی دی، يو د خلګو پر نسب نيوکه او پيغور ورکول، دوهم پر مړي په زوره ژړل. رواه مسلم عن ابوهريرة

څوک چي يو چاته فقط د نسب له کبله پيغور ورکړي، چي د فلاني قوم سړی دی، هغه په دغه سزا کي داخل دی. زواجر

عام خلګ په دې غفلت کي اخته دي ځيني خلګ ډير قومونه، کسبونه او کارونه ذليل او خوار ګڼي، يا يې پيغوره وي يا په داسي الفاظو ورته خطاب کوي چي د هغه څخه د هغوی د نسب حقارت څرګند سي، لکه: يو چا ته قصاب، حجام او داسي نور څه ويل، مګر که د چا شهرت په يو کسب او کار سره دومره سوی وي، چي د هغه پرته نه پيژندل کيږي او د ويونکو مطلب هم د هغه توهين او سپکاوی نه وي، بيا نو پرواء نه لري. امداد الفتاوي

د خپل اصلي نسب څخه پرته د بل چا د نسب سره ځان تړل:- رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايي: څوک چي د خپل پلار نسب پريږدي، بل چا ته خپل نسبت وکړي جنت باندي حرام دی. بخاري

مثلاً: که يو څوک صديقي نه وي د ځان سره صديقي ليکي، يا سيد نه وي دی سيد وليکي، يا انصاري نه وي مګر دی ځان ته انصاري وايي. دا هم کبيره ګناه ده هيڅ ګټه نه لري او همدارنګه د نسب بدلول د عزت ذريعه ګڼل مطلق غلطي ده ددې څخه په دنيا کي هم عزت نه سي موندل کيدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قران کریم د آیت، حدیث او د الله (جل جلاله) د نامه بي ادبي کول

دا ګناه داسي خپره سوې ده چي هیڅ کور، کوڅه، دفتر او هیڅ ځای نه دی ځیني خالي، په دې ذکر سوو ځایونو کي پاڅلي او تر سترګو کیږي، ټوله د الله (جل جلاله) نومونه، د قرآن کریم آیتونه، احادیث یا فقهي مسئلې وي، هغه چي احترام يې واجب او بي ادبي يې ګناه ده.

په ځانګړې توګه بیا قرآن کریم او د سیپارو زړي ورقي يې عموماً خلګ د مسجد په تاخچو کي ایږدي او فکري کوي، چي ددې د حق څخه فارغه سوو، او یا يې په زیارتو کي ایږدي چي هغه بیا د باد په ذریعه کوڅو ته رسیږي او د بي ادبي ګناه يې پر ایښوونکي باندي ده.

قرآن مجید یا دیني کتابونه چي زاړه او څیري سوي وي، کار نه ځیني اخیستل کیږي، ددې لپاره داسي حکم دی: په یو ټوکر کي دي وپیچل سي او په یوه خوندي مځکه کي دي ښخ کړل سي.

همداسي اخبارونه، مجلې او رسالې چي د غالب ګمان څخه معلومیږي، چي هغه په کچره یا امبارو کي اچول کیږي، په دغو شیانو کي قرآني آیتونه، حدیثونه او داسي نور... څه لیکل هم جائز نه دي.

که د اخبار یا مجلې بي ادبي وسوه، نو معلومه خبره ده چي ګناه يې پر بي ادبي کوونکي ده همداسي ددې پر کاتب او چاپوونکي ده، بلکي په داسي اخبارونو کي چي کوم مضمون دغه ډول لیکل سوی وي، نو د اصلي عبارت پر ځای دي يې د ژباړي په لیکولو سره اکتفاء وکړي، که څه هم ژباړه یا ترجمه هم د احترام او آدب وړ ده.

د احسن الفتاوی مولف فقه العصر حضرت مولانا مفتي رشید احمد لدهیانوي (رحمة الله علیه) فرمایي: په اخبارنو او اشتهاراتو کي د قرآن کریم آیتونه لیکل جائز نه دي، په مکاتبو، مدارسو او دفترونو کي جائز دي، مګر ګناه يې پر بي حرمتي کوونکي باندي ده.

## ځیني مهمي مسئلې

**اوله مسئله:** پر کوم کاغذ چي د قرآن کریم آیت، حدیث یا شرعي مسئله لیکل سوې وي، په هغه کي کوم شی پیچل یا اچول هم ناروا عمل دی. درمختار

**دوهمه مسئله:** داسي کاغذونو ته چي د قرآن کریم آیت، حدیث یا شرعي مسئله پر لیکل سوې وي، پښې غځول هم ګناه ده. علمګیري

**دریمه مسئله:** ساده کاغذ هم د آدب وړ دی په استنجاء کي يې استعمالول، څرنګه چي يې غیري مسلمانان یعني کفار د دغه کار لپاره استعمالوي، دا هم جائز نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بي ضرورته ستر لوڅول

د حدیث شریف ارشاد دی: د نامه څخه نیولې بیا تر زنګنونو پوري د نارینه ستر دی. حاکم

د یو بل حدیث شریف ارشاد دی:- حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: خپل ستر پټ کړی، خو د خپلې مینځې یا ښځې په وړاندې کوم باک نه لري، اصحابانو پوښتنه وکړه: که یو څوک په خالي مکان یعني ځای کې وي؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: الله سبحانه وتعالی ددې ډیر مستحق دی چې حیاء او پرده ځیني وکړل سي. ابو داود، ترمذي، ابن ماجه، نسائي، احمد، حاکم، بیهقي

علماء کرامو فرمایلي دي: تر ټولو لومړی فرض چې پر مسلمان باندې دی، هغه د ستر پټول دي، یوازې په لمانځه کې نه بلکې په عامو حالاتو کې هم تر دې حده پوري چې په خلوت او تنهایي کې هم فرض دی، خو د ضرورت ځایونه مستثنی دي.

په اوسني عصر کې فقط نارینه نه بلکې ښځې هم د فیشن په خاطر ځانونه تر ډیره لوڅوي نارینه د کفري لباسونو په اغوستلو سره فخر کوي، ورنونه یې لڅ وي، د عامو خلګو او ښځو په وړاندې ګرځي، هیڅ پرواء یې هم نه کوي، چې په دې عمل سره الله سبحانه وتعالي هم نارضه کیږي او کبیره ګناه هم ده.

ښځو بیا داسې لباسونه غوره کړي دي، چې اول خو یې ډیر اعضاوې لکه: ستر، غاړه، بازوګان تر سینې پوري لڅ وي او کوم اعضاوې چې یې پټ وي، پر هغو باندې یې بیا داسې چسپې جامې اغوستې وي، چې اعضاوې معلومیږي دا هم د لڅ په حکم کې راځي، بعضې خلګ په غربي فیشن کې غرق دي، دغه فرض تر پښو لاندې کوي، په ځینو هیوادونو کې د کارګرانو طبقه ده هغوی لنګ غوره کړی دی په هغه کې ستر نه پټیږي.

پر ناظر او منظور الیه دې لعنت وي: د بیهقي روایت دي: پر کتوونکي او هغه څوک چې ځان یې د بل وکتلو ته چمتو کړی وي، د الله سبحانه وتعالی لعنت دې پرې وي.

ډیر خلګ د استنجاء پر مهال پر ځان پټو نه اچوي، او استنجاء ته د کښیناستلو په وخت کې یې ستر ټوله معلومیږي لمن یې کوچنی وي، د ناستې په حالت یې د شاه د خوا ټوله ستر معلومیږي ښه کار نه دی، ځان هم ګناه کاره کوي، نورو مسلمانانو ته هم تکلیف رسوي او که څوک قصداً ورته وګوري، هغه هم ګناه کاره دی.

ددې حدیث یو مصداق هغه خلګ هم دي، چې د استنجاء یا لمبیدلو پر مهال ستر نه پټوي، همداسې په ځینو لوبه ځایونو کې لوبغاړو نیکران اغوستې وي، چې زنګونونه او ورنونه یې لڅ وي، دې ډول لوبو ته کتل او کښینستل د احادیثو په رڼا کې ناروا او حرام دي، مسلمان ته په کار ده چې ځان ځیني وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نجوميانو څخه د غيبو خبري پوښتل

کوم څوک چي د راتلونکي زمانې په اړه د غيب د خبرو وښوونکي ته ورغلی او د هغه څخه يې د غيب خبري وپوښتلې، ددې سړي څلويښت (۴۰) لمونځونه نه قبليږي. جامع صغير برمز احمد ومسلم

د حديث شريف ارشا دی: کوم سړی چي د غيب د خبرو ښوونکي يعني کاهن يا نجومي ته ورغلی او د هغه پر خبره يې يقين وکړ، هغه د هغې وحي او الهي کلام څخه انکار او کفر وکړ، کوم چي پر حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) نازل سوی دی. الجامع الصغير برمزاحمد والحاکم

ډير مسلمانان په دې کبير ګناه اخته دي او هيڅ فکر هم نه کوي چي دا ګناه څنګه ګناه ده او ددې عواقيب به څه شي وي، يعني ددې سزا به څونده وي او هر هغه کس چي کاهن ته ورځي او د يو څه لپاره معلومات ځيني غواړي، اول خو د هغو خلګو ټولي خبري تخميني، ظني او د ګومان څخه دي، چي پر هغه باندي هيڅ عتبار نسته، بس خلګ د بي عقلي او ناپوهي له کبله رجوع ورته کوي، الله (جل جلاله) دي ټول اُمت مسلمه ځيني وساتي. آمين

## د خلګو لاره تنګول او په لاره کي يې مرداري اچول

څوک چي يو ځای تنګ کړي، يا لاره بنده کړي يا يو مسلمان ته تکليف ورسوي، يعني داسي واوسي چي ولارويانو ته تنګي جوړه سي د هغه جهاد قبول نه دی. مسند احمد، ابو داود، الجامع الصغير

په حديث کي د جهاد ذکر د خصوصيت لپاره نه دی، بلکي ددې لپاره دي چي دغه شان په جهاد، حج او داسي نورو سفرونو کي پېښيږي، د حديث مطلب ښکاره دی کومي لاري چي د عامه خلګو د تګ راتګ لپاره دي، هلته کښيناستل يا دريدل د تلوونکو خلګو لپاره د تنګي سبب جوړيدل ګناه ده.

څوک چي د مسلمانانو د لاري په اړه کوم تکليف ورسوي، هغه که د ځای په تنګولو وي، يا د تکليف ناکه شي په اچولو سره وي، پر هغه د مسلمانانو لعنت ثابت سو. الجامع الصغير، الطبراني

دا چي د لږ وخت لپاره عامه لاره بندول ګناه ده، نو خلګ چي په خپلو کورونو کي د لاري يوه برخه شامله کړي او ددې څخه د هميش لپاره لاره بنده سي، تاسي فکر وکړی چي ددې به څومره سخته ګناه يې افسوس چي خلګ دا هيڅ ګناه نه ګڼي.

## سود خوړل يا يې کاروبار کول

د سود خوړل يا د سود کار کول دواړه په کبيره ګناه کي شامل دي، په قرآن کريم او احاديثو کي په ډير سختي سره يې بيان سوی دی او هيڅ مسلمان ځيني ناخبره نه دی، په حديث شريف کي يې د سود خوړل د مور سره تر زنا کولو هم سخته ګناه ګڼلي ده. قرآن کريم سود د الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول الله (صلی الله عليه وسلم)سره د جنګ اعلان ګڼلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د الله سبحانه وتعالی څخه ماسیوا په بل څه سره قسم اخیستل

د الله سبحانه وتعالی څخه ماسیوا لکه: پلار، نیکه، مدینه، کعبه او پیغمبرانو (علیهم السلام) سره قسم اخیستل د شریعت له نظره ناروا او حرام کار دی، بعضي خلګ په خرقه مطهره سر کوم چي د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) چپنه ده باندي قسم اخلي، ځیني بیا په یو زیارت او ولي سره قسم اخلي، دا ټول په غیر الله کي داخل دي او قسم په اخیستل حرام دي.

## د الله (جل جلاله) د نامه څخه ماسیوا نذر کول حرام دی

نذر کول عبادت دی او د عبادت لایق فقط الله (جل جلاله) دی، د الله (جل جلاله) څخه ماسیوا هر مخلوق چي وي د هغه لپاره نذر کول یا د هغه په نامه نومول ناروا او حرام دی. ایصال ثواب د بزرګانو او اولیاء کرامو و ارواحو ته ثابت او باعث د اجر او ثواب دی، په دې کي څه خبره نه سته، خو ددې سره یو ډول قید او تخصیص لګول احداث في الدین او بدعت دی.

د اولیاء کرامو په نامه څاروي ټاکل او بیا یې مزار ته وړل، په (ما اهل لغیرالله) کي د داخلیدو د کبله شرک دی، ددې خوړل هم حرام دي، که څه هم زر واره بسم الله او الله اکبر پر وویل سي. امام رازي (رحمه الله علیه) په خپل تفسیر کي ددې په حرمت کي بیان کړی دی او ټولو فقهاء عظام ددې په حرمت متفق دي. احسن القتاوی

که نذر د الله سبحانه وتعالی لپاره وي او ثواب یې وبزرګانو ته وي دا جائز دی. احسن الفتاوی

## د فلاني په حق سره دعا کول

حکیم الأُمت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي (رحمه الله علیه) فرمایي: بحق فلان په اعتبار د معنا یې حقیقي ناجائز دی، او په اعتبار د معنا مجازي یعني توسل جائز دی، نو په دلائلو کي تعارض نه سو پاته.

اصلاً ددې قول دوه (۲) مطلبه کیدلای سي: یو دا چي د فلاني حق پر الله سبحانه وتعالی باندي واجب دی، نو الله سبحانه وتعالی به دا کار کوي، ددې حق د امله دا قول باطل دی او ګمراهي ده، بل دا چي الله سبحانه وتعالی په خپل فضل او کرم سره د صالحو اعمالو په اجر ورکولو کي بنده ته دغه حق ثابت کړی دی.

نو اوس که یو څوک ددې صحیح مطلب په پام کي لرلو سره دا دعاء کوي، چي ای پروردګاره! زما دغه کار د فلاني په حق یا مرتبې سره راوه کړه. نو دا صحیح ده ځکه چي ددې مطلب دا سو چي د فلاني په توسل او وسیلي سره دغه کار راوه کړه او وسیله په دغه ډول مفهوم سره جائز ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د درواغو شاهدي ورکول

د حدیث شریف ارشاد دی:ـ د اسلام لومړی خلیفه حضرت ابو بکر صدیق (رضی الله عنه) فرمايي: موږ يو ورځ د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په حضور کي ناست وو، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمايل: زه تاسي ته دري (۳) اکبر الکبائر یعني د کبیره ګناهونو څخه هم غټي ګناوي درښيم. ۱: د الله (جل جلاله) سره يو څوک شريک نيول. ۲: د مور او پلار نافرماني کول. ددې ارشاد پر مهال ده مبارک تکیه لګولي وه دې جملي ته چي ورسيدی، نو دی مبارک کښيناستی او ويې فرمايل:ـ ۳: ګناه درواغ خبره او د درواغو شاهدي ده، بیا دغه جمله په وار وار وويله تر دې چي موږ په زړه کي ويل چي کاشکي نور پټه خوله سي. بخاري، مسلم

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: د درواغو شاهدي دري (۳) ځله د شرک براره ده. ابو داود، ترمذي

د حدیث شریف ارشاد دی: کوم سړی چي پر يو مسلمان داسي شاهدي ورکړي، چي هغه ددې اهل نه وي، هغه ته په کار ده چي خپل مقام په دوږخ کي وګڼي. مسند احمد، بسند رواه ثقات

په اوسني عصر کي عام خلګ په دې کبیره ګناه اخته دي، درواغ او د درواغو شاهدي ورکول بيخي هيڅ ګناه نه بولي، په اوس وخت کي خو ډير کارو بارونه داسي دي، چي بنسټ يې په درواغو او د درواغو په شاهدي سره اينوول سوی وي.

ډير داسي کارونه دي، چي عموماً خلګ يې شهادت او شاهدي نه بولي، ډير خلګ بيا داسي د درواغو شاهدي خپل مجبوري ګڼي او هيڅ فکر نه کوي، چي دا هم کبیره ګناه ده د غفلت او بي پرواهي د امله په کښې اخته يې الله (جل جلاله) دي ټول اُمت مسلمه ځيني وساتي، او الله (جل جلاله) دي هدايت ورته وکړي.

### د بسم الله الرحمن الرحيم ليکل په اعدادو سره

دا د بسم الله الرحمن الرحيم د ليکلو بي عزتي يا بي آدبي ده، ځيني اشخاص بسم الله الرحمن الرحيم په داسي ډول سره ليکي (۷۸۶) د بسم الله الرحمن الرحيم داسي ليکل بلکل غلط دي.

د بسم الله الرحمن الرحيم د ليکلو صحيح طريقه: د بسم الله الرحمن الرحيم پر ځای نوري کليمي يا (۷۸۶) ليکل د قرآن کريم، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او د اُمت د متوارث عمل خلاف دي.

د حديبه په صلح کي حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د بسم الله الرحمن الرحيم ليکلو حکم وکړ، مشرکينو اعتراض وکړ او ويې ويل: (اکتب تکتب باسمک اللهم). ددې څخه معلومه سوه چي

اسلام د بسم الله الرحمن الرحيم د ليکلو خاص طريقه متعينه کړې ده، ددې پر ځای د نورو کلماتو سره د بسم الله الرحمن الرحيم ثواب نه ورکول کيږي او سنت هم نه ادا کيږي. والله سبحانه وتعالی اعلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رشوت ورکولو جائز او ناجائز صورتونه

په اوسني عصر کي هري خواته د رشوت بازار ډير ګرم دی، داسي وختونه هم پيښيږي چي ډير شريف سړی به وي، مګر بيا به هم په رشوت ورکولو مجبوره کيږي چي رشوت ورکړي، ددې کبله ضروري ده چي د رشوت جائز او ناجائز صورتونه معلوم سي او بيا د هغه سره سم عمل وسي.

د احسن الفتاوی مولف (رحمة الله عليه) فرمايي: د رشوت اخيستلو او ورکولو بيلا بيل صورتونه دي، د هر يوه حکم ليکل کيږي:- ۱: د حکومت څخه قضاء يا داسي يو بل منصب يعني د وظيفي د لاسته راوړلو لپاره. ۲: په حاکم باندي د فصلې کولو لپاره. ۳: د اعانت على الظلم لپاره.

په دې درو (۳) حالاتو کي رشوت اخيستل او ورکول يې هم حرام دي، که د حاکم څخه د خپل حق د منع کولو خطر وي، نو هغه ته د ظلم د ختمولو په اړه رشوت ورکول هم جائز نه دي، ځکه چي ددې څخه د حاکم عادت خرابيږي، ځکه چي بيا پر ټولو عوامو باندي د ظلم باعث يعني سبب ګرځي.

۴: د کوم چا څخه چي د تکليف انديښنه وي، هغه ته د رشوت ورکول جائز دي، مګر د هغه لپاره يې اخيستل حرام دي.

۵: د يو تکليف د ختمولو يا د يوې ګټي د لاسته راوړلو لپاره په مينځ کي د واسطې جوړيدونکي يعني فقط سفارش کوونکي ته رشوت ورکول جائز دي، مګر د هغه لپاره يې اخيستل جائز نه دي.

هو! که د واسطې په ذمه کار وي، نو د هغه لپاره ددې کار اُجره اخيستل جائز دي، په دې شرط چي هغه په دې کار کولو باندي خپله قدرت ولري، ماسيوا د قدرته اعتبار نسته.

## د کميشن يا د دلالي اُجرت اخيستل

په دې موضوع کي د حنفي فقهي عبارتونه مختلف دي، مګر د عامو خلګو د ضرورت د امله د جواز قول يې مختار او مفتي بِه دی، هو! په دې کي د اُجرت معلومول ضروري دی.

د مثال په ډول: په لسو (۱۰) افغانو کي يوه افغاني هم د تعين صورت دی، يا فيصدي معلومه کړي او که د اُجرت تعين ونه سي، نو په دې صورت کي ناروا دی.

مګر په دم يا تعويذ باندي اُجرت اخيستل چي په اصطلاح کي شکرانه ورته ويل کيږي جائز ده، ځکه چي دا علاج او تداوي ده. كما صرح به العلامة ابن عابدين (رحمة الله عليه) في رد المختار

همداسي د هداية مصنف ( عليه الرحمة) هم د جواز فتوای ورکړي ده. هدايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په خیرات ورکولو سره احسان اچول

الله (جل جلاله) فرمايي: (يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَاتُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى). ژباړه: ای هغه کسانو! چي ايمان ئې راوړی دی مه باطلوئ تاسي خيراتونه خپل په احسان بارولو او ايذا (ضرر رسولو) سره. (سورت البقره ـ آيت ۲۶۴)

بل ځای الله (جل جلاله) فرمايي: (اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ثُمَّ لَايُتْبِعُوْنَ مَآ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّلَا اَذًى). ژباړه: هغه کسان چي خرڅوي مالونه خپل په لاره کښي د الله بيا نه ورپسي کوي (دوی) په هغه شي پسي چي خيرات کړي ئې وي احسان او نه ضرر. (سورت البقره ـ آيت ۲۶۲)

د دوهم آيت مبارک څخه داسي معلوميږي، چي د احسان اچولو ممانعت فقط په صدقاتو پوري خاص نه دی، بلکي هر څه چي د عبادت، طاعت او نيکي په لاره کي مصرف سي، هغه که په پر خپل ځان يا پر خپل اولاد او ښځي باندي وي، يا پر خپلو دوستانو قريبانو باندي وي، د ټولو دغه حکم دی چي په احسان اچولو سره د خيراتولو ثواب ختميږي، د يو داسي شخص په وړاندي خپل د احسان يا صدقې ذکر کول، چي د هغه په وړاندي د بيان کولو څخه هغه خوښي نه څرګندوي، پر کوم چا چي احسان سوی وي دا هم په (مَنًّا وَّلَا اَذًى) کي داخل دی.

ددې امله علماء کرام فرمايي: په سوغات يا صدقه ورکولو سره د دعا غوښتنه کول، يا د دعا اُميد کول هم مناسب نه دی، ځکه چي د ثواب د باطليدلو خطر ځيني سته.

## د الله (جل جلاله) د نامه څخه ماسيوا څاروی ذبح کول

د قرآن کريم ارشاد دی: (وَلَاتَاْكُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ). ژباړه: مه خورئ تاسي له هغي چي نه وي ياد کړی سوی نوم د الله پر هغې باندي او بيشکه! چي دا خوراک خامخا ګناه ده. (سورت الانعام ـ آيت ۱۲۱)

د حديث شريف ارشاد دی:ـ څوک چي د يو چا په نوم باندي څاروي يعني: پسه، بزه، چرګ او داسي نور... پريږدي يعني ونوموي هغه زموږ څخه نه دی. بي خوند ګناهونه

عموماً عام مسلمان په دې ګناه ډير اخته دي ځيني خلګ د بزرګانو او پيرانو په نامه څاروي نوموي يا يې د هغوی په نامه نذر کړي او ذبح يې کړي، مګر ددې څخه څه خوړل حرام دي او دا کار ګناه يې کبيره او د شرک سره مشابهت پيدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښځه د خاوند او مزدور يا غلام د بادار په خلاف پارول

حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: څوک چي ښځه د خاوند او مزدور د بادار په خلاف وپاروي، يعني د ښځي يا غلام او مزدور په زړه کي مخالفت او دښمني پيدا کړي، يا د دوی تر منځ و اختلاف ته نوره تقويه ورکړي، نو هغه زموږ څخه نه دی. رواه احمد بسند صحيح

همداسي يو سړی د خپلي ښځي څخه خوابدی کول او د هغه په زړه کي نفرت پيدا کول هم په دغه حکم کي داخل دی. زواجر

علماء کرام دا هم په کبيره ګناه کي داخل ګڼي او په حديث کي يې دغه ناوړه عمل د شيطان تر ټولو ستره کارنامه ګڼلې ده. مسلم

په اوسني عصر کي دغه عمل د عامو خلګو عادت ګرځيدلی دی، که د يو ښځي د خپل خاوند يا مزدور د خپل بادار څخه په شکايت وو، نو اوريدونکی ددې پر ځای چي مشکل يې ور حل کړي، نور يې هم د هغه په خلاف پاروي د هغو تر منځ نفرت، کرکه او کينه ډيره وي او دا د ښځي يا مزدور سره همدردي يا دوستي ګڼي.

هو! همدردي او دوستي په دې کي ده چي هغوی په دې پوه کړي چي د هغه به يو عذر وو، يا يوه مجبوري به يې وه، او ګوره که تا ته د هغه څخه يو تکليف رسيدلی يې، نو د هغه په زرګونو راحتونه چي تا ته يې درکړي دي، پر هغه سترګي مه پټوه او درپياد يې کړه، خلاصه دا چي د ښځي او خاوند يا مزدور او بادار تر منځ بايد روغه جوړه وسي او دوی ټولو ته بايد ښه او مناسب نصيحت وسي چي تر منځ يې مشکل حل او ژوند يې د پخوا په ډول عادي سي.

## په يو وخت کي تر يوه ډير طلاقونه ورکول

که د يو شرعي يا طبعي مجبوري د امله ښځي ته طلاق ورکول ضروري وي، نو شرعاً رواه دی، مګر سنت طريقه يې دا ده چي داسي وخت طلاق ورکړل سي، چي ښځه د مياشتني مريضي څخه فارغه وي، فقط يو طلاق ورکول مناسب دی، په يو وخت کي دري (۳) طلاقه ورکول چي عموماً په جاهلانو کي رواج لري ګناه ده.

که طلاق هم واقع کيږي عام او ناخبره خلګ ډير په دې کي مشغول دي، کله چي طلاق ورکړي نو تر درو (۳) څخه کم باندي ساه نه ايله کوي، که د يو سبب له کبله دا فکر کي وي، چي بيا د رجوع حق پاته نه سي، نو يو طلاق هم بائن کيدلای سي، تر درو (۳) پوري رسولو ته هيڅ حالت کي اړتيا نسته. الدرالمختار، بحر، وغيره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اجازې پرته د يو چا کور ته ورننوتل يا کتل

حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: کوم سړی چي پرته د اجازې د يو چا کور ته گوري، نو د کور خاوند ته جائزه ده چي سترگي يې راوباسي. بخاري، مسلم

د حديث شريف ارشاد دی: کوم چا که د اجازې څخه پرته د يو چا د مکان پرده پورته کړه او دننه کورته يې وکتل، نو ده يو داسي عمل وکړ چي ورته جائز نه وو. ترمذي

عام خلگ دا حکم د ښځينه په هستوگنځي پور خاص گني، د نارينه هستوگنځي ته کتل يا ننوتل په دې کي داخل نه گني بيله دليله په دې کبيره گناه اخته دی.

## د روح لرونکي شي په اور کي سوځل

حضرت عبدالله بن مسعود (رضی الله عنهم) فرمايي: حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د ميږيانو يو غار وليدی چي موږ اور ور اچولی وو، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: دا اور چا لگولی دی؟ موږ ورته وويل: يا رسول الله (صلی الله عليه وسلم) موږ لگولي دی، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: په اور سره عذاب ورکول، د اور د خالق الله (جل جلاله) حق دی، وبل چا ته ددې حق نسته چي ذي روح په اور کي وسوځي. زواجر

د بيان سوو احاديثو څخه داسي معلوميږي چي روح لرونکي شي هغه که انسان وي که څاروي که حلال وي، لکه: زياتره الوتونکي يا څاروي او داسي نور... حرام لکه: موږک، پشي، سپی، مار، لړم، غالبوزي او داسي نور... علماء کرامو ساه لرونکي شيان په اور کي سوځل په کبيره گناهونو کي داخل گڼلي دي. کذافي الزواجر

هو! که د يو ضرري حيوان لکه: مار، لړم او غالبوزي د ضرر څخه د حفاظت بله لار نه وي، نو د مجبورۍ د امله يې د سوځولو اجازه سته. کذا قال الزرکشي وغيره من الزواجر

## په اولادونو کي برابري نه کول

که د يو کس څو ښځي وي، په هغو ټولو کي عدل او برابري کول واجب او ضروري دي، د دوی په مينځ کي خلاف عمل کول يعني د دوی تر مينځ عدل نه کول کبيره گناه ده، همداسي په انعام، بخشش او په هر شي ورکولو کي هم برابري کول ضروري دي، په دې کي د هلک، انجلۍ، نارينه او ښځي لپاره برابره برخه ورکول په کار ده. دښځي نيمه برخه د ميراث قانون دی، په ژوند کي که مور او پلار څه شی اولادونو ته ورکوي، په هغه کي به د ښځي او نارينه برخي برابروي، ددې خلاف عمل کول گناه کبيره ده، هو! که هلک يا انجلۍ په علم يا عمل کي د مور او پلار په اطاعت او خدمت کي تر نورو بالا وي، نو هغه ته ډير شی ورکول يا ډير محبت ورسره کول او ناز تر نورو ډير ورکول جائز دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بولو د څاڅکو څخه ځان نه ساتل

د قبر ډير عذاب د بولو د څاڅکو څخه د ځان نه ساتلو له کبله ورکول کيږي، ددې کبله د بولو د څاڅکو څخه ډير احتياط وکړی.

په شريعت کي ددې وجهي د قضاء حاجت وروسته لومړی په لوټه سره استنجاء سنت ګڼل سوې ده، بيا يې په اوبو سره مينځل مقرر کړي دي، ددې لپاره چي وروسته د بولو څاڅکي عموماً راځي، چي د هغه د ختميدلو اطمينان وسي، او د بولو پاته اجزاءوي په مکمل ډول صفا سي. ددې څخه د ځان ساتلو لپاره لاندي عملونه سنت ګڼل سوي دي:- ۱: د بولو کولو لپاره دي لوړ ځای کښيني. ۲: پر داسي مځکه دي قضاء حاجت وسي د کوم ځای څخه چي د بولو څاڅکي پر بدن او کالو باندي ونه لګيږي. ۳: د کوم طرف څخه چي باد وي د بولو کولو په وخت کي دي هغه طرفته مخ نه ګرځوي، ځکه چي باد د بولو څاڅکي د ده وخوا ته راګرځوي.

## د خلګو په لاره کي مرداري اچول

د حديث شريف ارشاد دی:- حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: کوم چا چي مسلمانانو ته د هغوی په لاره کي تاوان ورسوي، پر هغه دي د مسلمانانو لعنت وي. الطراني بسند حسن

د حديث شريف ارشاد دی:- د لعنت د درو (۳) شيانو څخه ځانونه وساتی، اصحابانو پوښتنه وکړه: هغه درې (۳) د لعنت اسباب څه شي دي؟ ده (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: د اوبو په ګودر، لاره يا د سيوري په ځای کي يعني په کوم ځای کي چي خلګ کښيني قضاء حاجت کول. مسند احمد

د دوهم حديث څخه دا معلوم سوه چي دغه ګناه يوازي په بولو او ګندګيو پوري خاص نه ده، بلکي هر هغه شی چي خلګو ته تکليف ورسوي، په دې کي داخل دي نا‌ړي توکل، د نفرت او خوا ګرځيدو شيان، د کيلې پوستکي او هر ضرر لرونکي شي غورځول ګناه ده.

## پرته د ضرورته سپی ساتل

کوم سړی چي د څارويو د رمې يا د کښت د ساتني يا د ښکار د ضرورت څخه پرته د شوق لپاره سپی وساتي، د هغه د ثواب څخه هره ورځ د يوه قيراط په اندازه کميږي. بخاري، مسلم

د بخاري په يو بل روايت کي دوه (۲) قيراطه ذکر سوي دي. قيراط د وزن يو خاص مقدار دی، چي د اتو (۸) دانو وريجو ومقدار ته نژدې دی، مګر دا چي د آخرت قيراط څونده وزن يې دی او دلته ددې څونده اندازه مراد ده، دا الله سبحانه وتعالی ته معلومه ده. د حديث شريف مطلب ظاهراً دا دی، چي د صالحو اعمالو د مجموعي ثواب څخه هره ورځ دومره اندازه کميږي، دا احتمال هم سته چي د هر صالح عمل د ثواب څخه د يوه يا دوو (۲) قيراطو په اندازه کم سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پای

د الله (جل جلاله) د فضل او کرم څخه اُمید وار یم چي په خپل دربار کي دا کتاب را څخه قبول کړي، او الله (جل جلاله) دي یې د ټولو مسلمانانو لپاره ګټور او نافع وګرځوي، ځیني ضروري نکات چي باید په نظر کي ونیول سي.

په اول قدم کي باید ددې یادونه وکړم: که چیري ددې کتاب په کوم ځای کي مثلاً: په آیت، حدیث، ترجمه او یا هم په املاء او انشاء کي یې کومه غلطي وي، نو تاسي کولای سي هغه ما ته را په ګوته کړی او زه یې په راتلوونکي کي اصلاح کړم، کتاب د غلطي څخه پاک او تکمیل کړم، ځکه چي انسان عاجزه دی، هیڅ وخت د خطاء او غلطي څخه خلاص نه وي.

په دوهم قدم کي ددې یادونه کوم: که یو مسلمان د دغه ذکر سوو کبیره او صغیره ګناهونو څخه ځان ونه ساتي، نو لړ تر لړه خو به په دې پوه سي، چي څه کول ګناه ده او څه کول ګناه نه ده کومه کبیره ګناه ده او کومه صغیره ګناه ده او یو وخت به دا فکر ورسره پیدا سي، چي دا ګناهونو سخت عذاب لري پښیمانه به سي او پښیماني په دې باب کي د کامیابۍ کیلي ده.

په دریم قدم کي دا یادونه کوم: که څوک غواړي چي د کبیره او صغیره ګناهونو په هکله نور هم ځان پوهه او په خبر کړي، نو دغه مشهور کتاب (الزواجر عن اقتراف الکبائر) په نامه چي د علامه امام ابن حجر هیثمي مکي (رحمة الله علیه) تصنیف دی، چي په (۴۵۰) څلورنیم سوه مخونو او دوه (۲) ټوکه کي دی، چي په کښي د (۴۶۰) څلور سوه شپیته ګناهونو مفصل بیان سره د قرآن کریم او حدیث د سزاو ذکر سوي دي کتلای سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه

١: تفسير ديوبندي، مرتب الحاج مولوي عبدالحنان صاحب.

٢: كتاب زواجر عن اقتراف الكبائر، مرتب علامه امام ابن حجر هيثمي مكي (رحمة الله عليه).

٣: الشباه والنظائر، مرتب علامه ابن نجيم (رحمة الله عليه).

۴: بي خونده ګناهونه، مرتب مفتي اعظم حضرت مولانا محمد شفيع صاحب.

۵: كتاب الاذكار، مرتب حضرت امام نووي (رحمة الله عليه).

۶: اشباه وغيره، مرتب فتاواى علمګيري.

٧: احسن الفتاواى، مرتب علامه مفتي رشيد احمد الدهيانوي (رحمة الله عليه).

٨: احياء العلوم.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**